# رازونه



Ketabton.com

لیکونکی: احمدشاه (پوپلزی)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

دکتاب نوم: رازونه

ليکونکی: احمدشاه (پوپلزی)

کمپوز : احمدشاه ( پوپلزی )

ډيزاين : احمدشاه ( پوپلزی )

ناشر :احمدسمير " پوپلزی"

دچاپ شمير: 1000 ټوکه

د1382 هجري شمسي کال د ميزان د ميا شتي 26 نيټه

پيښو ر ، پاکستان

دچاپ حق محفوظ دي

د خپل گران پلارد ارواح خوښۍ په خا طر

شروع دسرطان 3 خاتمه دميزان 18

ستاسي د نيکو هيلو او نظرياتو په هيله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





احمدشاه (پوپلزی)
دالاهي ارشاداتو مفسر
دپښتنو دادبي تاريخ سپاهي
شاعر، ليکوال او نقد ګير

## بسم الله الرحمن الرحيم

## سريزه

د پروردګارعالم د هغه بې شماره رحمتونو اومهربانيوڅخه چي پخپلوبندګانو يي لري پخپل نوبت شکرکاړم . په ډيرفخراوسر لوړي سره الاهي هغه تحفه چي د قرآن پنوم ياديږي پخپل غيږ کي د زړه په سرداسي ټينګه نيسم چي د زړه ټول حرکات مي د قرآن د جملوسره ملحق سي . په سترګو مي هغه مبارک ارشادات چي دقرآن په سپيڅلو صفحاتوکي په زرينه توګه ليکل سويدي وليدل سي . په غوږونو کي مي هغه آوازونه طنين ادازسي چي د حضرت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلال (رض) دخولي څخه اوس هم د هوا په امواجوکي په حرکت کي دي او وي به . پلاس مي هغه قلم را وا خيستل سي او په ګوتو مي هغه څه وليکل سي کم چي درسول الله (ص) دخولې څخه راوتي وه ډير د شکرځای دئ چي نن بياداسلامي ارشاداتو پربنسټ ولاړ هغه قوانين چي د حق او حقيقت تهداب لري وخپلو ګرانو ويونکو اومينه والو ته په ډيرشوق او ذوق سره په داسي حالت کي وړاندي کوم چي د هجرت څه دپاسه نولس کاله کيږي .

په دې کتاب کي حتي الوسع کوښښ سويدی داسي مسائيل اوسوالونو ته جواب راوکښل سي چي د جامعي د روزمره اوحادو موضوعاتو د پاره څه ناڅه درك او فهم پيداکړلسي زياته برخه ددې کتاب په نقلونو اوکيسو باندي ولاړه ده که څه هم موږ دانقلونه په پوره ډول او پوره حالت سره نه دي بيان کړي خو بيامو هم دومره کوښښ کړيدی چي اصلي مقصد اوهغه څه چي زموږ مقصد دی د دې کيسي څخه هغه وخپلو ګرانو ويونکو ته په ساده اولنډو الفاظو کي وړاندي کړو. دلته ټول جوابونه دقرآّن پاك په لارښوونه اودالله (ج) دخاص استازي حضرت محمد (ص) په رهنمودونوغني سويدي . موږ دا کتاب په دې خاطر دکيسو او افسانو څخه جوړکړځو زموږګران مينه وال خپل ځان اوخپل ذهن اندازه کړي چي څومره دمعلوماتو په درلودلو سره غني دي بعضي داسي مسائيل په ذهنونوکي په غلط فهمۍ سره ځای په ځای سوي وي چي د هغو اټکل اکثره حقيقت ښکاره کيږي . خو په اصل کي داسي نه وي . زموږ هدف دلته دداسي مسائيلو د حل او روښانه کيدو څخه دئ . په دې لاره کي هرهغه په اسلام مين ورورا‌و خورچي وکولای سي د خلقو په ذهنونو کي مثبت او سالمه ځرګندونه ښخه کړي پروردګارعالم به ورته په دنيا او آّخرت کي سربلندي اوعزت ور په برخه کړي . خصوصاً په داسي شرائطو کي چي د حق اوحقيقت څخه خلګ د تيښتي وخواته لاره هموار‌وي او ياخو د خپلي ګټي په خاطرد بدعتونو لاري جوړوي په اين وآّن سره ( په درواغو ، چل اوفريب سره ) د خود ساخته ( د خپل ځانه څخه په جوړسوي احاديثو اوبيځايه ويناګانو ) زموږ په پاك اوسپيڅلي دين کي داسي کرغيړن نشرات خپروي چي دضعيف البنيه او سست ايمانه کسانود پاره د قبليدو چانس برابريږي . په دې لاره کي د ټولو منورو علماوو، دانشمندانو اوسپيڅلو مسلمانانو څخه داهيله کوم چي خپل ايماني او وجداني مسئوليت په نظر کي ونيسي هغه دسايس او اسلامي ضد تګ لاري چي دعوامود فريب اوخطا ايستلو په غرض د کفراو الحاد له خواڅخه را منځ ته کيږي د علم او قرآّني ارشاداتو په رڼاکي د نابودی کندي ته واچوي.

احمدشاه ( پوپلزی )

دالاهي ارشاداتو مفسر

دپښتنو دادبي تاريخ سپاهي

شاعر، ليکوال او نقد ګير

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فکر او تد بر

وايي په تيره زمانه کي يو ډيرمشهوراو نامداره شخصيت وو. د ده دومره دبدبه اوقدرت وو چي د هغه وخت چارچاپيره ټول ژوندي موجودات د ده ترامرلا ندي وه اوهيڅ کس سرکښي نه کول مرغانو هم په هواکي د ده د اجازي نه بغيرحرکت نسواى کولاى ټول بلبلان او پرندگان د ده په امر ږغيدل او چپ پاته کيدل وحشي حيواناتو هم د ويري څخه هيڅ داسي کارنسواى کولاى چي هغه د دې مشهور شخصيت د خبرتياڅخه ليري واى لنډه دا هر وخت او هرزمان چي به دا شخصيت تلئ اويا به يې سيراو سياحت کاوه نو د هوا مرغانو به دده پرسرباندي پخپل پروازسره د لمر وړانگي پټولې بادونه ديوان او پيريانان ټوله دده ترامرلا ندي تيارسى ولاړوه ټول زيروح به دده ترشاه دلښکرپه توگه قطار قطار دريدل.

وايي يوه ورځ دا مدبره شخصيت چيري په گښت وتلى ووکله چي بيرته راتلى وي ليدل چي يوه دانه مرغه په هواکي نسته ډيرپه غصه کي سو او امر يې وکړچي کله دا مرغه راغلئ ورته به سزاورکول کيږي ، په لحظوکي مرغه را ورسيدئ په ډير قهر ورڅخه پوښتنه وسول . چيري تللى وي ؟ مرغه چي ډير ويريدلئ وو په ډيره عاجزي سره يې وويل :.باداره مامه وژنه ما تاته نن ورځ يوډيرعجيبه خبرراوړيدئ.

مدبره شخصيت ځني وغوښتل چي نکل وکړي مرغه ورته وويل ((کله چي زه ستادسترگو څخه پټ سوم ماداسي يوښار وليدى چي هلته د هغه ښار واکداره ښځه وه اوهغې په ټول ملك باندي حکمروايي کول ستا د ملك ترادارې لا ندي نه دي)).

مدبره شخص چي داخبره واوريدل ډير په تعجب کي سومرغه ته يې وويل (( زه به درته خط وليکم هغه يوسه او ورته وريې کړه))

مرغه هم هغه ومنل خط يې واخيستى او پخپل مشوکه کي يې ټينگ ونيوي هوا ته والووتى ،کله چي وهغه ښارته ورسيدى نويې خط دمليکي يا د هغه ښار پادشاه چي ښځه وه په مخ کي وا چاوه خپله بيرته په هوا سواو په يوه درخته کي کښې نستى کتل يې چي مليکه څه کوي ، مليکې چي خط خلاص کړاووې وايه پوه سوه چي داکارد يوه عادي سړي نه دى . خپل وزيران يې را وغوښتل او دا احوال يې ورته و وايه . ددې ځاى وزيران چي ډيرجنگيالي او زوررور خلگ وه ټولو و ويل (( موږ ځو اوداسړى وژنو او ملك يې ورته خراب کوو)) .

مليکې خپل وزيران ددې کارڅخه منع کړل او هغوى ته يې و ويل (( تاسي فکر وکړى موږ ته داخط اواخطارد يوه مرغه پلاس را ليږل سويدئ په دې کارکي حتماً لوى لاس سته اودا يو ساده کارنه دئ د جنگ څخه به تيرسو او ددې کار دمعلومولو د پاره به زه خپله ځم اوگورم به چي دا څوك دئ اوڅه غواړي )).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرصورت د مليكي او مدبرسړي تر منځ رابطه همدغه مرغه ټينگه کړه سفرآّغازسوکله چي دمدبرسړي ودربارته ورسيدل وي ليدل چي د اوبو په منځ کي يو تخت پروت دئ چي بايد دا باندي کښيني وې غوښتل چي خپلي پايڅې راپورته کړي بوټونه وکاږي او په اوبوگډه سي داکاريې هم کاوه ، خومدبره سړي ورته وويل.

(( راځه دلته اوبه نسته اوبه تر ښيښي لا ندي دي )) .کله چي دامليکه وتخت ته نژدې سوه هم هغه تخت ووکم چي ددې په خپل درباركي ددې تر پښولا ندي پروت ووډا بله يوه د قدرت بيلگه ددې مدبره شخص له خوا ورته وښودل سوه مليكه چي ډيره پوهه اوهوښياره ځيرکه ښځه وه د بيرته رسيدو په وخت کي يې خپل وزيران را غونډکړل تکراراً يې بيا ورته و ويل جنگ کمه فايده موږ ته نه رسوي ددې پرځاى چي خپل خلگ و وژنو بايد د صلح څخه کاروا خلواوخپل ملك خراب نه کړو پخپل عاقلا نه تدبر سره يې وطن د بربادی اوانسان وژني څخه وساتی اودمدبره سړي سره يې ددوستي تړون لاس ليك کړ په نتيجه کي دواړه ملکونه سره يو او مضبوط هيواد سو.

سوالونه

.1ددې مدبره شخص نوم څه وو؟

.2دا مليکه څوك وه او نوم يي څه وو؟

.3ددې مرغه نوم څه شي دی ؟

جوابونه

.1حضرت سليمان عليه السلام.

.2بي بي بلقيس وه چي اول يې ولمرته سجده کوله (کافره وه) خو د سليمان عليهم السلا م سره تر واده کولو وروسته مسلمانه سول.

.3په قرآّن شريف کي د هُد هُد په نوم ولي موږ يي دملا چرگك پنوم يادوو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ

.1ددې قصې څخه تاسي څه مطلب واخيستی ؟

.2دژوندانه په کارونوکي بايد دکمي لاري څخه کار واخلو؟

.3که د خپل عقل او تدبر څخه کاروا نه خلو څه به وسي ؟

خدای تعالي (ج) په قرآن عظيم الشان کي فرمايي

))آياهغه کسان چي علم لري اوهغه کسان چي علم نلري سره برابردي ؟ ((

هيڅکله نه سره برابرکيږي.

زموږ رسول اکرم(ص) فرمايي : (( علم زده کړي ځکه شرافت د انسان په علم اوادب سره دی په مال اودنياسره نه دی ))

شرافت الا نسان باالعلم ولا دب لا باالمال والنصب ) حديث نبوي(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واده شپه

په تیره زمانه کي یونجار وو چي په ملك کي دقحطۍ او وچکالۍ له امله مجبوره سوخپل کوراوکلي پرېږدي دیوې گولې ډوډۍ دگټلو د پاره باید یو بل چیري مسافرت وکړي. هغه وو چي خپله بستره یې و تړله اود سفرموزې یې په پښوکړې دکوره څخه یې د خدای په اماني وکړه او رهي سو. یوه کلي ته ورسیدۍ دځانه سره یي فکروکړچي شپه به دلته تیره کړم اوسبا به حرکت کوم .دلته په دې کلي کي هم د ژوند ټول اړخونه په ټپه دریدلي وه. یوخیاط وو چي هغه هم غوښتل و یو بلي خواته سفر وکړي چانس ورته یاري وکړه د یوه نه دوه ښه دي سره ملگري سوه اوسهاردواړه رهي سول . پس له منزل وهلو بیا هم د خپلي شپې د تیرولو د پاره په یوه کلي کي ډېره سول . ددې کلي خلکو هم ډېرښه ژوند نه درلود، یو زرگر چي ډېر لایق او دانسته وو د دې دوو مسافرو سره مخامخ سو هغو ته یي وویل (( ماته احوال راغلی دی په پلاني ښهرکي ډېره ښه مزدوري پیداکیږي انشاء الله خلگ به زموږ سره کمك وکړي )) سهارسو د دوو نه درې ښه دي سره ملگري سول او پخپل سفر یي پیل وکړ څوشپې او ورځي یې منزل وکړ ډیرستړی سول په گده یې سلاح وکړه چي صبا به منزل نه کوي شپه سوه درې واړه ویده سول ، نجار چي د خپلو ماشو مانو په فکر کي ډوب دی خوب نه ورتلی کرار ولاړ سو د خپلي لور په یاد یې د لرگي څخه یوه دانه نانځکه یعني یوه دانه ناوکۍ جوړه کړه بیاراغۍ کرار پخپل ځای کي پریوتی خیاط هم د یوه اړخ څخه په بل اړخ اوښتۍ ډېرخوب نه ورتلی را ویښ سو ناڅاپه یې سترگي پر نانځکي ولگېدې پوه سو چي دا کار د نجار دئ سمدلاسه یې یوځه ټکړې چي درلودې هغه یې قیچي او ناوکۍ ته یې یوه دانه کمیس جوړکړ ،دی هم راغۍ پریوتۍ د سهارخوا وه زرگرد خو به راکښې نستۍ سترگي یې پرناوکۍ ولگیدې دی هم پوه سو چي دې دوو نفرو خپل کمال ښکاره کړ زه پاته سوم زه هم باید څه ناڅه وکړم ده هم پخپل نوبت سره د سرو یاسپینو څخه یو امیل ورته جوړکړ اود ناوکۍ په غاړه کي یې واچوۍ بیرته راغۍ او پخپل ځای کي ویده سو، خیریوه شپه وه تیره سوه سهاردرې واړه د خوبه را ویښ سول چي گوري یوه ډېره ښایسته پیغله په جامواو زیور آراسته ناسته ده هریوه ددې درو واړوڅخه غوښتل چي دا پیغله پخپل نامه کړي کرار کرار دوستي په دښمني تبدیلیږي دعوه ده.

سوالونه

1.اوس تاسي و وایاست دا پیغله باید دکوم کس حق وي ؟

2.اسلامي شریعت په دې باره کي څه ویلي دي ؟

3.هغه کس چي په زوره دا پیغله و ځانته غواړي حقه خبره ده ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوابونه

.1اسلام وايي بايد د پيغلي څخه پوښتنه وسي چي ددې دروکسانو څخه کوم يوددې خوښ وي هغه دي وغواړي.

.2دوه نفره به شاهدان سي او يونفربه زوم.

.3هرهغه کس چي په زورسره دا پيغله ځانته غواړي د اسلام د دين مخالفت کوي مورې شاهدان يو،پلار،اکا،ماما،وروراو ټول دوستان حاضر وي د نکاح په وخت کي مگر بيا هم قاضي،مفتي ياملا امام دوه نفره شاهدان وناوي ته استوي پوښتنه تري کوي چي ستاد نفس او مهر وکيل څوك دئ ؟ هغه وخت چي ناوي د خپلو قريبانو څخه يوکس انتخاب کړي هغه کس بيا د انجلي وکيل گرځي او د انجلۍ په عوض خبري کو که چيري دا انجلي پخپله ودې قاضي يا مفتي يا ملا امام ته حاضره سي هيڅ ممانعت د اسلام د نقطه نظره نسته ، خودا چي په اسلام کي شرم ، حيا اود مور پلار احترام ضروري خبره ده اوهيڅ موراو پلار د خپل اولاد په بده نه وي روا داره نوپه همدې خاطر انجلۍ پخپله خوښه يوکس انتخابوي . ضرورنه ده چي هغه يې پلار وي يا نژدې دوست .

اودا خبره بايد د ياده څخه ونه باسو چي د نکاح د ترلوڅخه مخ کي رضايت اود تفاهم خبري سوي وي په دې ورځ صرف انتهاي فيصله کيږي.

په نتيجه کي ددې ناوي رضايت شرط دئ . بيله رضايته نکاح نه ترل کيږي اونه يې څوك په زوره سره نکاح کولای سي . ځکه په زورسره نکاح ترل حرام دي .بلکه نکاح يې هم نه کيږي .

هغه کسان چي دا فکرلري چي گواکي انجلۍ دموراو پلار په رضا ورکول کيږ ي د سره څخه غلطه ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حق مهر

ډیرکلونه مخ کي یوپادشاه وو یوه لوریې درلودل یوه ورځ دې پادشاه قسم وخوړئ (( خپله لوربه ترهغوپوري چاته ورنه کړي څوددې انجلۍ په حق مهرکي ددې دنیاپه اندازه داراي وانه چوي )) کلونه تیریږي انجلۍ غټه کیږي د انجلۍ مور و پادشاه ته وایې دا انجلۍ غټه سوه چاته یې ورکړه پریږده چي پخپل بخت پسې ولاړه سي.

پادشاه قسم خوړلئ وود خپله عهده څخه نه وزي داسي سړی هم نه پیداکیږي چي دومره مالداره او دنياداره وي د انجلۍ مور او دوستان ډیرخپه وو آخریې په پادشاه زور راوړئ چي څه ناخه وکړي . پادشاه مجبوره سو اعلان یې وکړئ هرهغه کس چي ددنیا په اندازه زما دلور پوره ولور راکړي هغه ته به یې ور په نکاح کړم شرط دادی هغه کس چي دا ولور ومني او بیایې اداْ نکړای سي نود هغه سر به پرې کیږي.

دې دوو شرطوته هیڅ کس هم نه حاضرکیدی یوه ورځ یوسړی حاضرسو چي د پا دشاه دواړه شرطونه ومني پادشاه وخپل ځانته ومنئ سړي اقرار وکړ چي زه حاضریم ددې شرط په اداکولوسره د پادشاه لور ځانته په نکاح کړم پادشاه ورنه پوښتنه وکړه . ستاپادشاهي اومال دولت چیرته دئ ؟

(( سړي وویل زه نه پادشاهي لرم او نه هم دنيا دولت)) . پادشاه فکر وکړداسړی یا خولیونی دی او یاهم د ژونده بیزاره سوی ، په هرصورت پادشاه امروکړصبا ته راسه اود ټولوخلقو په مخکي اقرار وکړه ، سړی ولاړی اوسهار سباحاضرسو پادشاه خپل وزیران ټوله د شهادت د پاره را ټول کړیوه قاضي القضات د سړي څخه پوښتنه وکړه

(( تاددې انجلي دمهرد پاره چي پادشاه حکم کړیدئ ددې دنیا په اندازه ولور راوړیدئ ؟ )) سړي اقراروکړهو.

قاضي وویل کمه دئ ؟

سړي دخپله جیبه څخه قرآن عظیم الشان را وایستی دقاضي په مخ کي یې کښیښیودئ اودا مبارك آیت یې ورته ولوست.

لا رطب ولا یاْ بس الا في کتب مبین.

ترجمه : نه وچ سته اونه لوند په مځکه اوآسمانوکي مګرپه دې کتاب کي ښکاره .

سړي وویل داکتاب ددې انجلي تر ولور په زرهاووچنده دروند دئ قاضي ومنل . او پادشاه ته یې قناعت ورکړ. سمدلاسه یې نکاح وتړل سول اوسړی چي د قرآن عظیم الشان لوستونکی اوقبلوونکی وو د پادشاه زوم سو.د انجلي مورهم ډیره خوشحاله سوه او انجلۍ هم پخپل بخت ورسیده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوالونه

.1قرآن څه شي دئ ؟

.2وچاته نازل سویدئ اود چاپه واسطه موږ ته ښوول سویدئ ؟.

.3د پادشاه په ملك كي كم قانون حكم فرماوو؟

.4مهرڅه شي دئ ؟

.5اودامهر د چاحق دئ ؟

جوابونه

. 1قرآن د الله پاك كلام دئ.

.2وحضرت محمد (ص) ته نازل اود هغه په واسطه موږ ته ښوول سوی دئ .

.3پادشاه مسلمان اوداسلام قانون په ملك كي رائيج وو.

.4مهرد انجلۍ په حق كي بخښنه اوددې خپل حق دئ

)خاص الخاص.(

.5داچي بعضي خلگ د انجلۍ مهراخلي او پخپله رضايې وځانته مصرفوي بل كل حرام دئ كه چيري انجلۍ خپل رضايت وښودئ وهرهغه كس ته چي ددې رضا وي پروا نلري غيرله دې هيڅ كس دا حق نلري حتي كه خاوند (ميړه ) يې هم وي چي ددې مهر څخه استفاده وكړي.

اصلاً په حقيقت كي مهر د نكاح د ترلو په وخت كي په هم هغه ساعت و ښځي ( ناوي ته ) وركول كيږي . اوياهم د ناوي وكيل ته سپارل كيږي بيا د هغې خوښه ده چي څه په كوي . اويا يې چاته بخښي . اويايي دخپله ځانه سره ساتي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدای (ج) سا تنه

په تیره زمانه کي یو ډیرظالم پادشاه وو د خلکو وژل ،ژوندي ښخول او په سرکي د ژوندي انسانانومیخونه ټکول د ژوندانه د معمولي احکامو جزګرځیدلی وو یوه شپه دې ظالم پادشاه خوب ولیدی اور را روان دئ په بعضو کورونو کي د پادشاه ددښمنانو نه ننوزي خود پادشاه د دوستانو په کورونو کي داخل کیږي اوهغه سوځي . سهارسو پادشاه ډیر په قهرکي دئ خپل وزیران یې را وغوښتل اود خوب تعبیر یې ځني وغوښتی وزیرانو علماْ را وغوښتل او جواب یې ترینه پیدا کړ، یوه عالم ورته داسي ځواب ورکړ، ((ستا د دښمنانو په قوم کي داسي هلك پیدا کیږي چي ستا پادشاهي به ختموي او ستا قوم به وژني )) .

پادشاه ددې خبري په اوریدلو سره سم امر وکړددې قوم ټول هغه هلکان دي ووژل سي کم چي دې نه بعد پیدا کیږي . همداحکم جاري وساتل سوحتي تردې اندازې چي اویازره کسه هلکان ووژل سول خواصله مدعا یې پوره نه کړای سوای . هلك پیدا سو موریې ډیره وارخطا وه . ورته داسي تدبیر وښوول سوچي یو صندوق دي جوړکړي هلك دي پکښې واچوي او په دریاب کي دې وغورځوي مور یې همداسي وکړه . دریاب د اوبو صتدوق راوړئ اوپه داسي یوه کورکي یې دخپل دیوه نهر په واسط داخل کړ چي په دې کور کي هیڅ هلك نه وو زیږیدلئ په دې کورکي ډیره خوشحالي راغله خودکوردمالك رضائیت نه وو . په هر صورت داهلك لوی سو یوه ورځ یې په بازارکي چکرواهه وې لیدل دوه خلګ سره په جنګ اخته دي حتماً یوحق وو بل ناحق . دې ځوان هلك د حق پلوي وکړه او په داسي حال کي چي اراده یې نه درلودل هغه نا حق سړی ځني و واژه سو . دا خبره ددې باعث سوه چي وتښتي اود ملك څخه فرار وکړي پس له ډیرو شپو او ورځو یو چیري ورسیدئ که ګوري دوې انجوني د خپلو پسونو سره یوې خواته ولاړې دي اونورخلګ دڅاه په کوهي باندي را ټول سوي خپلو رموته اوبه ورکوي￼دې ځوان ته درد ورغی ولاړی د څاه څخه یې غټه تیګه لیري کړه اوبه یې را وکښلې اود دوو انجونو پسونوته یې اوبه ورکړې او خپله بیرته ولاړئ . دادوې انجوني راغلي او خپل پلارته یې دا نکل وکړئ ددې انجونو پلار ور څْخه پوښتنه وکړه . داسړی څوك وو؟ انجونو وویل موږ یې نه پیژنو . پلاریې وویل ورسئ داسړی راولئ . یوه ددې انجلیوڅخه ولاړه اوځوان یې راوستی په داسي حال کي چي ځوان ورته وویل:

))ته دمخه دمخه ځه اوزه به وروسته درپسې درځم څو خلګ بد ګمان ونکړي((

کله چي کورته راغئ ترخبرو وروسته ددې سپین ږیري بوډا چوپان سو اوترلسوکلونوپوري یې چوپاني قبوله کړه .

وعده را ورسیده کلونه پوره سول سپین ږیرئ چي یو ډیرعالم باتقوا او پرهیزګاره سړی ووخپله یوه لور یې ودې ځوان ته ورکړه ځکه دا ځوان هم ډیرامانت داره او پخپل هوډ باندي کلك پابند وو، .....0

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوالونه

.1ددې ځوان هلك نوم څه وو؟

.2ددې دووانجونو پلارڅه نوميدی ؟

.3دا ظالم پادشاه څوک وو؟

.4اوددې پادشاه دښمنان کم قوم وو؟

جوابونه

_1ددې ځوان هلك نوم حضرت موسي عليه السلام وو. چې پروردگارعالم د يهودانود لارښووني د پاره اود هغودخلاصی د پاره ومصرته وليږه اوددې فرعون په کورکي لوی سو .

-2ددې دووانجونو پلار حضرت شعيب عليه السلام و.

-3دا ظالم پادشاه فرعون وو چې د خدايي دعوه يې کړې وه . څو د خپلي سرکښۍ په نتيجه کي په رود نيل کي غرق سو .

-4ددې پادشاه دښمنان بني اسرائيل ( نني يهودان ) وو.بني اسرائيل د فرعون د لاسه ډير په عذاب وه ځکه فرعونيانو دا خلگ د خپلو غلامانوپه شکل استعمالول . اوهيڅ رحم يې نه پرې کاوه .

نوټ : هغه انجلۍ چې حضرت موسي وغوښته هغه بي بي صفورا وه . ځکه وده ته د خدمت د پوره کولو په صورت کي قبوله سوې وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حسد او پښیما ني

ډیرکلونه مخ کي یومتدین پرهیزګاره اوصادق سړی وو.ډیرزامن یې درلودل ټوله ځوانان او په ثمررسیدلي وه یودانه وړوکي ورور یې درلودی چي پرپلارډیر ګران وو، دا وړوکي ډیر هو ښیار او ښایسته وو اکثره به دا لوی وروڼوددې ماشوم سره کینه او بغض کاوه ، حتي ترديې چي یوه ورځ یې یود بله سره مشهوره وکړه راسئ دا وړوکي بوزو او ورك یې کړو. پلارته راغلل اوددې کشر ورور اجازه یې ځني وغوښتل. پلاریې هرڅومره ټینګار وکړ چي داماشوم دئ خا مخوا درڅخه ورك کیږي مګردوی ورته وویل .

(( موږ ټوله ځوانان یو اوغښتلي هیڅوك نسي کولای زموږ ورور راڅخه پټ کړي )) دمېلې شپې اوورځي وې ټوله خلګ ومیلې ته روان وو دوی هم روان سول د ورځي په آخرکي یې سره سلاح وکړه راسئ دې هلك چاره وکو ټولو په ګډه هلك راواخیستئ او په یوه لوی څاه کي یې واچاوه . خپله بیرته کورته راغلل کله چي پلار ځني پوښتنه وکړه هلك مو څه کئ ؟دوی ټولو په ګډه ورته وویل هغه خو زموږ څخه ورك سو په دښته کي حیوانانو وخوړي دادي نښانه یې موږ درته راوړل ، پلار یې ډیرغمجن سو اوتر ډیروکلو نوپوري یې ژړل ترديې اندازې چي سترګي یې ړندي سوي .هلك دخدای په رحم اومهرباني سره د څاه څخه را ووتی اود یوې قافلي سره روان سومخ په بل ښهر.کله چي ویوه ښهرته ورسیدل نود دې قافلي مشراعلان وکړ چي یوه دانه غلام ( مریي ) د خرڅلاو د پاره موږ راوستی دی . کله چي د رانیولومسئله سوه دغلام مرتبه اوقیمت ډیر لوړ وختئ . په هرصورت یو مالداره سړي چي ډیرمشهور وو رانیوی اوکورته یې بوتلي هلك په کورکي دغلام په حیث کار کاوه دلته په کورکي یوه ښځه پرمینه سوه غوښتل یې ددې هلك سره دوستي وکړي . خوهلك خپل ځان ځني وساتی . دا خبره پټه پاته نه سوه دکلي اوکورخلګ ټوله په خبرسول آوازه وهري خواته تیته سول . مالداره سړی چي په خبرسوهلك یې په زندان کي واچاوه اوډیرکلونه په زندان کي پروت وو، نه یې پلار وو نه یې مور نه یې خور وه نه یې ورور، بلاخره د زندان نیټه پوره سول اوحقیقت رشتیاسومیدان ته راووت د خپل صداقت او رښتینولۍ د وجه څخه د حکومت د ډیروغټو افرادو په قطارکي ودریدئ اوخپل فرمانونه یې صادرول.

دی نو پریږده دلې چي خپله پادشاهي کوي . هلته دده وروڼه اوکورنۍ ټوله د بارانونو د نه کیدلو د وجه څخه د غذا په کمبود باندي اخته وه په ټوله ملك کي قحطي راغلې وه. هغوی مجبوره سول د نورو وطنو نو څخه غله دانه راوړي په همدې غرض بې خبره ودې ښهر ته راغلل خودا خپل ورورېې نه پیژندی ځکه ډیرکلونه پکښې تیر سوي وه اوداګمان یې هم نه کاوه چي ددوی هغه وړوکي وروردي دومره غټ سوی وي اودې درجې ته دي رسیدلی وي . په هرصورت داوړوکي ورور خپل وروڼه وپیژندل ډیرعزت یې د دوی وکړخو خپل ځان یې ور و نه ښاوه چي زه هغه ستاسي وړوکي ورور یم . ودوی ته یې و ویل زه تاسي ته ډیره غله دانه درکوم په دې شرط چي تاسي خپل ټول وروڼه راولئ اوراسئ هغوی هم ومنل او ولاړل ټوله وروڼه را حاضرسول داځل ده ددې خپلو وروڼوسره چل وکړ یعني د یوه وروړپه خورجین کي یې د سرو زرو جام پټ کړ. کله چي قافله باریدل اعلان و سو چي د پادشاه یوه دانه د سرو زرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جام ورك سويدی موږ تلاښي كوو آّخرجام د ورور د خورجين څخه راووتې . هرڅومره چي هغوی زاری وكړې موږ غله نه يو،خوثابته خبره في الحال همدغه ثبوت وو ، سلاح اومشهوره پردې سول دكم كس په خورجين كي چي جام پټ سويدی هغه بايد د پادشاه ترنظارت

لا ندي و اوسي . همداسي وسول . او نور ورونه د قافلې سره روان سوه او ولاړل . دلته پادشاه دا خپل بندي ځانته را وغوښتې او پوه يې كړ چي ته مه ويريږه زه ستا هغه ورك سوی وروريم چي په وړوكوالي كي سره جلاسوي وو. بيايې دخپل پلار پوښتنه ځني وكړه او بيايې امر وكړ چي دوی ټوله دې راوستل سي ، كله چي پلار د خپل ورك سوي زوي اطلاع واوريدل ډيرخوشحاله سوټوله كورنۍ راغلل اودده ورونو پرخپل پخواني اعمالوباندي سخته پښيماني وښودل اود خپل وروږمهرباني يې دقدر وړ و بلل.

سوالونه

1.داپرهيزگاره اومتدين سړی څوك وو؟

2.ددې وړوكي ورور نوم څه وو؟

3.دغلامۍ په بڼه كي چارانيوئ ؟

4.دا ښځه چي پردې غلام مينه وه څه نوميدل ؟

5.دهغه كس په خورجين كي چي د سرو زرو جام پټ سوهغه څوك وو؟

جوابونه

1.متدين اوپرهيزگاره سړی حضرت يعقوب عليه السلام وو

2.ددې وړوكي ورور نوم حضرت يوسف عليه السلام وو .

3.دغلام په بڼه كي عزيز دمصرچي دهغه وخت دحكومت لوی غړي وو را نيوي.

4.دا ښځه چي په حضرت يوسف عليه السلام مينه وه

5.بي بي زليخاوه . دحضرت يوسف عليه السلام اخلاق اوښايست دومره زيات وو چي بي بي زليخا ونه سوای كړلای خپل توان اوطاقت پټ كړي. لطفاً دا قصه په قرآّن شريف كي ولولي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.6په خورجین کي د سرو زرو دجام سړی د یوسف کشرورور بن یامین وو.په دې خاطر يې جام د خپل ورور په خورجین کي پټ کړي څودا خپل وروردلې د خپله ځانه سره وساتي او ټوله معلومات د خپل کورځني و پوښتي . اوځانته بهانه پیداکړي څوخپل پلار او ټوله کورنۍ مصرهغه ځای ته چي دی پکښي حکومت کوي راوغواړي

نوټ : حضرت یوسف علیه السلام په وړکتوب کي خوب لیدلی وو. یوو لس ستوري اوسپوږمۍ وده ته سجده کوي . کله چي سهارسو نوخپل خوب يې خپل پلارته ووایه . پلار يې ورته وویل زویکه دا خوب به هیڅ چاته نه وايې . ځکه پلاريې پوهیدی چي ددې هلك څخه پیغمبرجوړیږي . اوخلگ حتماً ورسره کینه اوعداوت اخلي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حق اوعدا لت

په یوه زمانه کي دري تجاران وه . هريوه دخپل کسب اوکمال په درلود لوسره شهرت درلودئ. يوه ځل درې سره دمالونو د رانيولو په خاطر په تجارت باندي وتلي وه ، په يوه ښار کي اوسيدل څودمالونو د را نيولو په هکله معلومات حاصل کړي . ناګهانه يوه ورځ ديوه ساحرپه ليدو سره چي دخپل جادو په اظهار باندي لګياوو مخامخ سول ، ددې جادوګرپه عجائبو صحنو سره چي دخلقوپه مخ کي يې اجراْ کول متحيرګرځيدلي وه او هميشه به يې په دې باره کي يود بله سره خبري کولې د هريوه دا خوښه وه چي ددې علم زده کړه وکړي اوخپل ځانته آسانتياوي برابري کړي .دوی ټولو په ګډه سره يوه ورځ دا فيصله وکړه چي ددې جادوګر څخه به داعلم زده کووهغه وو چي يوه ورځ درې واړه جادو ګرته راغلل اوخپل حال يې ورته ووايه ، جادوګرهريوه ته ددوی تحفه ورکړه يعني يوه ته يې يوه دانه قالينچه ورکړه ، بل ته يې يوه دانه هنداره ورکړه او بل ته يې يوه دانه سيب ورکړ .

دقالينچه ښه والی داوو چي په قالينچه باندي به کښينوستل نوهري خواته چي به يې زړه سوهغې خواته به يې پرواز کاوه . د هنداري خوبايي داوه کله چي به يې په هنداره کي وکتل نودخپلي خوښي ځای به يې پکښي کي ليدی . دسيب خوبايي داوه کله چي به دناجوړی په وخت کي چاخوړلی وای نو دناجوړی څخه به راګرځيدی او ترډيره عمره پوري به ژوندی پاته کيدي . يو ورځ هغه کس چي دهنداري مالك وود جهان نندارہ کوله وې ليدل چي په يوه ملك کي يو پادشاه دئ دهغه لورډيره سخته ناجوړه ده ددې پادشاه همدايوه دانه لوروه ډيره پرګرانه وه اعلان يې وکړ هرهغه طبيب چي زما دلورعلاج وکړي زه علاوه پردې چي داخپله لور ورته په نکاح ورکوم خپله نيمه پادشاهي هم ور سره ورکوم . ددې تجارانودا تجارت خوښ سواودرې سره په قالينچه باندي په داسي حالت کي کښينستل چي په ډير شوق سره وهغه ښهر ته روان وه . کله چي وښهرته داخل سول نودغه يوه دانه سيب يې دې انجلۍ ته ورکړ. هغې وخوړاو روغ رمټه سول . اوس پادشاه حيران دی چي داخپله لور وکوم کس ته ورکړي . پخپله دادرې واړه تجاران هم سره بې اتفاقه دي ځکه هريوددوی په دې باندي رضا دي چي د پادشاه لور وغواړي . اوس تاسي قضاوت وکړئ داانجلۍ دکوم کس په نکاح کي راسي

.1قالينچه وا لا وايي که چيري دا قالينچه نه وای موږ به دلته څنګه راتللو؟ يعني زما حق دئ.

.2هنداري وا لا وايي که چيري داهنداره نه وای څنګه به دې ځای ته زموږ فکررارسيدلئ وای اوڅنګه به پرې خبرسوي وای ؟ اصلاً دا انجلي زما په حق ده.

.3سيب وا لا وايي که چيري داسيب نه وای داانجلۍ به څنګه بيرته روغه رمټه ګرځيدلي وای ؟

راسئ چي قاضي ته ولاړسو اود شريعت له رويه ورڅخه پوښتنه وکړو آيا د اسلام مقدس دين په دې باره کي څه ويلي دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي په منځ ددې درو تجارانو کي دا فیصله وکړه.

.1دقالینچه تجارخپله قالینچه لري.

.2اودهنداري تجارخپله هنداره لري.

.3دلته یوازي د سیب تجار په خپل حق ونه رسیدی .

ځکه ددې تجارسره خوسیب هم نسته باید داانجلۍ دسیب په حق کي د تجارسره په هغه صورت نکاح کیږي چي د انجلۍ رضائیت هم حاصل وي ، د انجلۍ رضائیت ځکه حاصل وو چي هغه د سختي نا جوړی څخه خلاصه سوې وه ( په بستر پروت مریض هم په ژوندني دمړي حالت بیانوي).

اوکه یې رضانه وه نودسیب عوض باید ورکړي . رضاخویې ده ځکه الله پاك د تدریجي مرگ څخه وساتل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ظلم او ستم

په تیره زمانه کي یوداسي ظالم پادشاه وو چي ډیرخلګ ځني په عذاب وه د ظلم حد اولړۍ تردې اندازې پوري رسیدلي وه چي هیڅ کس یې هم تصورنسي کولای ، بندي خانې د بندیانوډکي وې په شاقه کارونو کي دمظلومانولاسونه او پښې تناکي سوي وې د رعیت اقلیت د پادشاه د ظلم له لاسه د ژوند په ډیرو سختو کړاوونو کي د مرګ په انتظار وه . لنډه داچي دې ظالم پادشاه دخپل زړه په خوښه دستورالعملونه جاري کول اوهغه به یې عملي کول ددې پادشاه په رعیت کي یوه وړه ډله وه چي د پادشاه قاعده اوقانون ته نه تسلیمیدل . پادشاه هم په هره اندازه ظلم چي د لاسه کیدې صرف یې کړي خو کمه فایده یې ونکړل . بلاخره پادشاه مجبورسو وخپلو پیروانانو ته یې امر وکړچي د ښهر د باندې لوی لوی خندقونه وکیندې او جوړ یې کې. د پادشاه امر تاْ میل سو خندقونه وکیندل سول ، بیا پادشاه امر وکړ چي دا ټول خندقونه د لرګیوڅخه ډك کړي ، داکارهم وسو ، بیایې امر وکړ چي اور ورته ورته کړي ، داکارهم وسو ، بیا یې امر وکړچي دخندقونوپه کناروکي زماد ناستي د پاره تختونه جوړ کې ، داکارهم وسو، بیا یې امر وکې زما مخالفین ټوله ګرفتار راټول کې ، داکار هم وسو .پخپله ولاړی په تخت باندې کښې نستې اوامر یې وکی چي زما مخالفین راولی اوپه دې اور کي یې واچوی ، همداسي کیدل هریو کس چي به اورته اچول کیدئ نو پادشاه به په قهقهه سره خندل اوخوشحاله کیدئ به ، خبره دې اندازې ته ورسیدل چي هیڅ څوك پاته نه سول بغیر د یوې ښځې نه چي خپل زوی یې په غیږ کي نیولی ووهغه هم په دې خاطر چي ګواکي د پادشاه زړه ددې ماشوم په خاطر وسوځي او ما خوشي کړي ، کله چي د اورڅنډې ته نژدې سول ښځې وغوښتل چي فریاد و باسي خو نا ګهانه ددې ماشوم هلك د خولې څخه داسي یو ږغ راووتی (( ځان واچوه داځای ډیر بهتره اوګلستان دی مه ویریږه .)) داماشوم اومور دواړه ددې کوهي و اورته ولویدل اود شهادت جامونه یې نوش کړ .

اوس ستاسي څخه پوښتنه کوم.

1.ددې قصي نه مو څه زده کړه ؟

2.آیا داقصه مو چیري اوریدلې ده ؟

3.د پادشاه مخالفه ډله څوك وه ؟

4.پادشاه اودهغه ډله څوك وه ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوابونه

.1ددي قصي نه موږ دانتیجه واخیستل چي دانسان سره په دې اندازه ظلم او ناروا د انسانیت د چوکاټ څخه وتلی کاردی ، اورکي سوځول دمځکي پر مخ د پروردګارعالم د اوامرو سره مخالف دی.

.2دا قصه دقرآن عظیم الشان په صفحاتو کي داصحاب

الا خدود په نامه موجوده ده.

.3د پا دشاه مخالفه ډله د هغه وخت مسلمانان وه.

.4پادشاه او د هغه ډله داسلام ضد( کافران ) وه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایمان او عمل

په تیره زمانه کي یوډیرپوه هوښیاراوصادقه سړی ووخپل ټول عمر یې د خلقو په خدمت کي تیراوه ،راز، رازتکلیفونه یې و ګالل په ډیرو مصیبتونوکي اخته سو ولي د خپل عظم اوارادې څخه یوه زره هم ستومانه نسو ټوله خلګ یوې خواته وه دی بلي خواته وو. یوه ورځ چي خلګ ټوله دجشن په میله اخته وه خوشحالۍ یې کولې دا هوښیار سړې خپله ملا و تړله اود پادشاه و حرم سرای ته ورننوتی. څه چي یې د لاسه کیدل هغه یې وکړه په قصدسره یې ټول سامانونه ورته مات کړل خپل تبریې هم هلته ځوړندکړاو بیا ترې را ووتی. کله چي پادشاه اود هغه ملګري بیرته وا پس سول وې لیدل چي هرڅه په بل مخ باندي اوښتي دي دا کارد پادشاه د پاره ډیر ګران پریوتی، او د خپل شان سره یې لازم ونه ګڼل امر یې وکړ چي دا شخص دي پیدااو ونیول سي ،څوپخپله سزا باندي ورسیږي ټولوخلقو رایې ورکړي چي داکار ددې یو سړي له لاسه سوئ دئ ، پادشاه چي ډیر په غصه کي وو امر یې وکړ چي دا سړی ژوندی وسوځی ،همداسي وسول خوداسړی مړ نه سو اود اورڅخه ژوندی بیرته را ووتئ خلګ ټوله حیران وه کارونه د خدای (ج) دي په یوه مځکه کي چي څلور خوایې غرونه وه او وچ میدان وو د اوبو آثارهم نه لیدل کیدئ د خلګو تګ راتګ هم په دې لاره چنداني نه وو ددې صادقه اوهوښیارسړي پرې ګذر راغی دلته ده خپله کډه واړول شپه تیره سول سهارد ژوندانه د کار و بارد پاره وخوځیدئ او ولاړئ پرور دګارعالم په هم دې وچ ډاګ کي ورته زوي ورکړمور یې وارخطا سول د خپلي کړدی څخه د باندي را ووتل غوښتل یې چي څوك پیدا کړي او ورڅخه کمك وغواړي خوکامیابه نه سول.

د بیرته راتللو په وخت کي د لیري سترګي د خپلي کړدی په لور ولګیدي چي پرسر یې ټپوسان اتڼ کوي وارخطاسول او په منډه منډه یې دخپلي کړدی په لور را ودانګل کله چي را ورسیده وې لیدل د اوبو چشمه غیبي پیدا سویده ډیره خوشحاله سول اود خدای شکر یې وایستی ، ددې صادقه سړي عمرټوله په تکالیفو کي تیرسویدئ خود خپل عزم او ارادې لاره یې ددې حوادثو په مقابل کي هیڅکله بدله نه کړه حتي تردې اندازي چي یوه شپه یې خوب ولیدئ چي دا خپل زوي وژني ځان یې چپ ونیوی بله شپه یې بیا خوب ولیدی بیا یې خپل ځان چپ ونیوی په دریمه شپه چي یې خوب ولیدی نو دا خپل زوي ته یې وویل.

))اي زویکه مادغه درې شپې خوبونه لیدلي دي چي تا به قرباني کوم ، ستا څه خیال دی دې خپل زوي ورته په داسي حال کي چي لا ځوان سوي هم نه وو داسي وویل.

))بابا جانه څه چي ستاخوښه وي هغسي وکړه خیرشپې ورځې دي تیرېږي یوه ورځ پلارداتصمیم ونیوئ چي داخپل خوب به عملي کوي پخپل زوي یې پاکي جامي واغوستی سترګي یې ورته توري کړې او یوه دانه رسۍ یې دځګانه سره را واخیستل پلاراو زوی دواړه دکوره څخه را ووتل یوڅه منزل چي یې وکړ یو غماز جادوګر په لاره کي پیدا سو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا هلك ته وايي : (( مځه ددې خپل پلارسره تاوژني )) هلك چې داخبره واو ريدل خپل پلار ته يې ږ غ كړ او داخبره يې ورته وويل:

پلار يې په خواب كې ورته وويل .

(( غوږ مه پرنيسه به ډبره يې ووله )) چې څه مخ كې لا نه وه تللي بيا يو بل غماز جادوگر راپيدا سو او دې هلك ته يې هم هغسي وويل هلك بيا خپل پلارته وويل پلار يې بيا ورته وويل په ډبره يې ووله ددريم ځل دپاره بيايوبل غماز پيداسودهغه سره هم هم هغسي رفتار وسوكم چې دمخكني دوو نفرو سره سوئ وو.

قصه به را لنډه كواودخپلوسوالونو ځوابونو ته به ځان تيار كړو .

1.دا نيك عمله اوصادقه سړى څوك وو؟

2.څه يې غوښتل اودښمن ورسره څه وكړه ؟

3.هغه ځلورلاره چې دې صادقه سړي خپله كړدې پكې ودروله څه نوميږي ؟

4.هغه ځلورلاره كې چې ددې صادقه سړي زوى پيداسو نوم يې څه شي دئ ؟

5.دې لاره كې اوبه څنگه پيدا سوې ؟

6.كله چې پلاراو زوى دواړه دكوره څخه ووتل په مخ كې ورته څوك راغلل اواصلي نومونه يې څه دي ؟

جوابونه

1.دانيك عمله سړى حضرت ابراهيم عليه السلام وو.

2.غوښتل يې دخلقودمنځه څخه خرافات ليري او د وحدانيت قانون رايج كړي خو جاهلانوغوښتل دى و وژني او په اوركې يې وسوځي.

3.هغه ځلورلاره د ننني كعبه مركز دى ( مكه معظمه په همدې ځلور لاري كې آباده سول .)

4.نوم يې حضرت اسماعيل عليه السلام.

5.دحضرت اسماعيل عليه السلام د ژړاپه وخت كې چې خپلې پندې يې په مځكه منبلې رب العزت ددې حركت پواسطه د اوبو چشمه پيدا كړه كله چې دده مور را ورسيده د ډيري خوشحالى څخه يې د ريگو ديوالونه د اوبوپه څنډه كې ودرول او دايې ويل ضم ، ضم ، اوس دا اوبه دآب ضم ضم پنوم باندې مشهوري دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



6.دحضرت ابراهیم علیه السلام اوحضرت اسماعیل علیه السلام په لاره باندي دعزازیل اولاده ( شیطانان ) دحضرت اسماعیل علیه السلام ومخ ته په درې ځایونو کې راښکاره سول داسماعیل د پلارپه وینا (حضرت ابراهیم علیه السلام په ډبره يې وولہ اوحضرت اسماعیل علیه السلام هم داسي وکړل نو هغه درې ځایونه ترنن پوري مسلمانان د حج د فريضه د اداْ کولو په غرض چي ودې ځای ته رسيږي په وړو دانو د شګوسره د وهلو دا فريضه ادا کوي اودغه د شیطان پنوم په نخښه سوي ځایونه ولي اودحضرت ابراهیم او اسماعیل علیه السلام قبول سوی عمل د ستاینې په غرض تائیدوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حج ا کبر

ډېرکلونه مخ کي درې کسان سره يوځای سول غوښتل يې دپاك پروردگارعبادت وکړي څووکولای سي خپل ځانونه دمتقي او پرهيزگاره بندگانودجملې څخه وشميري . په همدې غرض درې واړه دښهر څخه دوتلوپه مبناباندي په تصميم نيولو سره بريالي سول خپلي جامي يې کت کړې د سفرموزې يې په پښوکړې اوخپلي راټولي سوي پيسې يې ديوې سپکي بسترې ( بړستن ، بالښت اوکورپچې ) سره ټينگي وتړلې ، دخپلو دوستانو سره يې دخدای په اماني وکړه اومخ پرقبله باندي يې خپل سفرشروع کړئ .

ډېري شپې اوورځې يې منزلونه ووهل ترڅوچي په يوه دښته کي دشپې د تيرولود پاره سره ډېره سول ، ددوی داعادت ووچي دورځې به يې منزل واهه ولي دشپې به چيرته دخپلي آرامۍ اوکرارئ په غرض سره راغونډېدل اوشپه به يې تيروله سهاردلمانځه څخه وروسته به بيا په خپل سفرسره روانيدل ، داځلي شپه د پخوانيو شپو په شکل نه وه په دې شپه کي يوه عجيبه پيښه وسول چي هيڅ کس ددې واقعې يوتصويرهم په ذهن کي نه درلودی ، هغه داسي:

يوددې دروکسانو څخه په نيمه شپه کي دخوبه راپورته سوڅو دخپل خدای عبادت وکړي که گگوري دليري څخه د اور شعلې رامعلوميږي نوموړي شخص چي هرڅومره دځانه سره سوچ وکړ چي دابه څوك وي ورته ثابته نسول ځکه نو دمعلومولود پاره را رهي سو څودغه اورته خپل ځان ورسوي اومعلوم کړي چي داڅوك دی ، که چيري هغوی هم دسفرکسان وي نو ورسره به يوځاي سي اوکه داحالت نه وي نوبايدپوه سي چي په دې نيمه شپه اودښت بيابان کي داخلگ څوك دي اوڅه غواړي ؟رارهي سو پس له څه ځنډه راورسيدئ د اورځای ته که گگوري چي يوه سپين سري بوډاښځه ناسته ده ورسره درې څلورماشومانان ويده پراته دي اودې سپين سري ښځي ديگ باندي کړيدی لا ندي اوربليږي

مسافرسړي ځني پوښتنه وکړه ؟

اې ادې په دې نيمه شپه کي څه کوې اوڅه دي په دې ديگ کي اچولي دي ؟ سپين سري ښځي چي خپل ټول حواس دلاسه ورکړي وه اودلوړي څخه ډېره په تنگ راغلې وه داسي وويل : څه موکوې وروره ځه خپله لاره وهه ، ته په دې شپه کي څه کوې انسان يې که پيری ؟

سړي په جواب کي ورته وويل : والله انسان يم دعبادت دپاره راوتلی يم قسمت ستاسره مخامخ کړم . پس له سوال او جواب نه دسپين سري ښځي باور وسو ورته يې وويل .

داماشومان زمالمسيان دي الاهي تقديراتوزمازوی راڅخه واخيست يتيمان ماته پاته سول نورنودخوړلود پاره څه پاته نسول په کلي اوکورکي هم چا راسره دغريبۍ له امله کمك ونسوکړلای ما ماشومان رارهي کړه څو بل کلي يا ښهر ته چي ځان ورسوو، مجبوري ده بله هيڅ چاره نلرو ، څوشپې کيږي دلوږي څخه حرکت نسو کولای ، داماشومان راته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاړي او راځخه يوه ګګوله ډوډۍ غواړي زماپه وس کي بل څه نسته د درواغوا او تير ويستلو په مبنا باندي دا ديګ ما په اورباندي ايښۍ دی اودنه په ديګ کي څوداني ډبري دي ماشومان غولوم ، ورته ويلي مي دي تاسي ته حلوا پخوم ټول دادي دژړااولوړي له امله ويده پراته دي چيرته حلوا ، چيرته خوراك.

دمسافرسړي په زړه کي دومره لوی رحم اومهربانئ ځاي ونيوئ چي ترخپل هرڅه ورتيرسو يعني بيرته خپل ډيره ځای ته راغلی چي څه خواړه او پيسې يې درلودې هغه يې را واخيستل او بيرته دې سپين سري ښځي ته راغئ اوټول يې ورته ورکړل.

دخپل عزم اوارادې څخه يې هم صرف نظروکړځکه دده د پاره دسفرازوغه هيڅ پاته نسول . چي سهارسوخپلو دوو انډيوالا نوته يي هيڅ ږغ هم ونکړ خوصرف دومره يي ورته وويل چي زه نورسفرنسم کولای ستاسي دي په مخه ښه سي د خدای (ج) څخه درته دکاميابه سفرغوښتنه کوم اوبيرته مخ په شا دکورخواته راوګرځيدئ . پخپل روزګاراوعبادت لګيادئ چي څه موده پس دده دوه ملګګري بيرته دسفرڅخه په کاميابه ډول را ورسيدل ډيرخوشحاله وه اويودبله يې مبارکئ ورکولې .

ده ته يې هم مبارکي ويل چي ستا عبادت هم دخدای (ج) په دربارکي قبول سواوهرچيري آواز راتللی چي ستا عبادت قبول دی، ددنيا د نورو ملکونوڅخه چي خلګ دعبادت د پاره راغلي وه ټولوته دا عبادت د اووو کرتوعباداتو په شکل قبول سو ، ستادي بياهم مبارك وي ځکه دالله پاك داصلي متقيانو دجملې څخه وشميرل سوې . اوس نو ويونکوڅخه داپوښتني کوم

.1داعبادت په کوم نوم سره ياديږي ؟

.2دهفتې دکومي ورځي سره برابردئ ؟

.3په داسي عبادت کي څه ګټه ده؟

جوابونه

.1داعبادت حج اکبردئ.

.2دجمعې دمبارکي ورځي سره.

.3په داسي عبادت کي ددنيااواخرت ګټه پرته ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاً په داسي عبادتونو کي دپروردګارعالم رضايت هم شامل دئ . هغه کس چي درب العزت پربندګانو رحم کوي پرورد ګارعالم هم پرهغه رحم کوي . دقرآن عظيم الشان په صفحاتو کي پروردګار فرمايي (( هغه څوك چي پروردګارته قرض ( پور ورکوي په احسن صورت سره نو پروردګارعالم به هغه ته اضافه ترهغه څه ورکړي کم چي شخص وده ته ورکړيدي ( الله ته ) . )) په دې ځاى کي بايد موږ پوه سو چي الله پاك وقرض ته احتياج نه لري ،دلته دقرض څخه مقصد د پروردګارعالم هغه بيچاره اوضعيفه انسانان دي چي بايد اغنيااو ماړه خلګ داکسان د خپل نظر او فکرڅخه ونه باسي . اضافه پر زکات ددې ناتوانو اشخاصود اقتصادي حالت د ښه والي د پاره هم بايد نيك نظر ولري . ددې خبري د ثبات د پاره همدا د قرض حسنه ورکول دي ياخو خيراتونه اوصدقي جاري ساتل د هرهغه مسلمان وظيفه ګڼل سويده چي دمالي وضع حالت يې ښه وي . ځني خلګ بيا داسي وايي چي زه خوهيڅ نلرم هغه پلانکى وګوره زما اودهغه دمځکي اوآسمان ترمنځ فرق دى . حال داچي داخبره صحيح نه ده ځکه هرکس بايد دخپل توان اوقدرت په اندازه دغريبانو سره مرسته وکي . دده په دې حرکت سره به نه يوازي د پرورد ګارعالم رحم او عطوفت ډير سي بلکه د خپل هم نوع سره به يې هم اخلاقي اوانساني کمك کړئ وي . په نتيجه کي به دجامعې څخه فقراو بد بختي له منځه ولاړه سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پيدا ينبت

يوه پرهيزګاره سړي يوه دانه سيب په داسي حالت کي وموندی چي غوښتل يې دلمانځه دپاره پاکي اوسترګي وکړي هغه . وياله چي نوموړي سړي غوښتل لاس اومخ پريمنځي يوه دانه سيب اوبو پرسرراخيستي وو ، نوموړي هغه راواخيستی اويوه حصه يي ځني وخوړل ناڅاپه په فکر کي ورته ولويدل چي داخوحتماًدکم بل شخص مال دی اوماته حرام دی . سمدلاسه دهمدې وياله په څنډه رارهي سو غوښتل يي چي دسيب دلويدلومبداء معلومه کي ، داوبولښتی ديوه باغ څخه چي دسيبو درختي پکښې وې تيرسوي وو، نوموړي شخص دباغ دروازه پيداکړه اوباغبان ته يي دنيمګي سيب قصه وکړه اوورڅخه وي غوښتل چي دانيم سيب ورته وبخښي، باغبان چي هم يو پوه او صادقه سړي وو پوه سو چي دا شخص ډير په ځاي رسيدلی سړی دی بايد دده سره دوستي وکړي نو ورته وې ويل.

داسيب په يوه شرط بخښم چي ته به هم زماغوښتنه منې.

نوموړي ورته وويل . څه غوښتنه لرې ؟

آيازماپه واك اواختيارکي ددې غوښتني امکانات سته ؟

باغبان ورته وويل هو ، زمايوه لورده چي هم ګنګی ده ، هم کڼه ، هم ړنده ده هم شوټه ، دابه ته په نکاح سره اخلي .سړی چي هم مجبوره وو ويي منل په دې خاطرچي خوړل سوي سيب ورته حلال سي . دواده شپه سول نکاح وتړل سول خلګ خبرسول کله چي پرهيزګګاره سړي ترمراسمو وروسته خپلي خوني ته ولاړی که ګګوري يوه ډيره ښايسته اوځوانه انجلي دده په انتظارده ، د داسي حالت منځ ته راتلل دپرهيزګاره سړي دانتظارڅخه ليري خبره وه نودخپلي کوټې څخه بيرته راووتی اوخپل خسر( باغبان ) ته راغي اوورته وې ويل (تاخوزماسره بل رنګه وعده کړې وه اوس خودابل څه وينم خسريي ( باغبان ) ورته وويل داهم هغه انجلي ده چي ماتاته ويلي وه ، ړنده په دې معني چي هيڅ نارينه يي بيله تا څخه پخوانامحرم نه دی ليدلی.

ګنګګه په دې معني چي دهيڅ نامحرم سړي سره يي خبري نه دي کړي.

کڼه په دې معني چي دهيڅ نامحرم سړي آواز يې نه دی اوريدلی

شوټه په دې معني چي دخپله کوره څخه يي دباندي قدم نه دی ايښی.

په هر صورت ددې ښځي څخه يوه دانه هلك پيدا سو ، داهلك دوړکوالي څخه ډير هوښيار اوذکي وو دتعليم اوزده کړي سره يي ډيره علاقه درلودل کله چي لوی سودخپل وقت اوزمان دډيرو لويواونامتو شخصياتو دجملې څخه وګګرځيدی دخپلو ښواخلاقو او پوهي په درلودلو سره يې ډيرخلګ دخپل ځان په شاوخواراټول کړل ځکه ترنن پوري ددې سړي دپوهي درناوي کيږي اوپه درنده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترگه کتل دمسلمانانودډيروخلګوله خوا وظيفه ګڼل سويده ،

اوس نو تاسي ووایاست

سوالونه

.1دسيب خوړونکي څوك وو ؟

.2ددي ښځي څخه کم هلك پيدا سواو نوم يي څه وو ؟

جوابونه

.1دسيب خوړونکي ثابت رحمت الله عليه دامام ابوحنيفه پلاردی

.2ددې ښځي څخه حضرت نعمان ابن ثابت پيداسو، چي دژوندانه دلوړو اومعتبرو اشخاصوپه قطارکي ځاي لري او نوم يي امام اعظم صاحب يا امام ابوحنيفه يانعمان ابن ثابت دی.

ضروري خبره سربيره پرامام اعظم صاحب ، امام شافعي صاحب ، امام جعفر صادق صاحب،امام مالك صاحب،امام احمدصاحب ، امام حنبل صاحب او نورتوله امامان زموږ د مقدس دين ( اسلام ) دسپيڅلو اساساتومفسرين دي چي زموږ د سترګو تور اود تاريکی څراغان دي ، خود بعضي خود پرسته او شخصي اغراضو په واسطه دکفراوالحاد په مکمله لارښوونه ددې محترمو علماووتر منځ توپيراو برتري زموږ د مسلمانانو په منځ کي يو ناوړه ناورين دي که نې په حقيقت کي ټوله ديوه بڼ ( قرآن) دباغ بلبلان دي .هيڅ

يوه ددې امامانو نه دي ويلي چي زماقاعده اوقانون صحيح دی اوددې نورو خلګو ادعاوي اولارښووني غلطي دي . داچي خلګو پخپله خوښه هريوددوی څخه خپل رهبر جوړ کړيدي دهغو هيڅ ګناه نه ده.

پرموږ ديوه صادقه مسلمان په حيث دافرض ده هغه مقدسي لار ښووني چي داسلام يعني قرآن په مطابق زموږ دلار ښووني دپاره ددېني علماوو په واسطه روښانه سويدي پخپل قضاوت سره مطالعه اوترتطبيق لا ندي ونيسو نه داچي په ډول ډول بهانو سره په دې محترموعلماوو باندي اعتراض وکړو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اولاد نیمګړ تیا

په تیره زمانه کي یوتجاروو ډیرمال اوشته یي درلودل ، مزدوران مینځیاني اوکارګران یي په خدمت کي شپه اوورځ ولاړوه. .... دپروردګارعالم نعمتونه ډیردي .خوددې تجارپه ژوندکي هم هیڅ کمی نه وو ، همیشه به یي زکات ورکاوه ، خیراتونه به یي کول دیتیمانو اوبیوزلا نواحوال به یي هرکله ترخپل نظرلا ندي نیولی وو، کله کله به بندي خاني ته تلئ اود بندیانو د پاره به یي هم خوراکونه اوجامې تیارولې ، د ظلم اوستم ډیر زیات مخالف وو، خپل ځان يي تر نورو لوړ نه ګڼاه اوهمیشه به یي د خپلوغریبانو وروڼو سره مصافحت کاوه د غریبانو او معتبرانوترمنځ یي هیڅ توپیر نه کاوه ، د بیوزلا نوسره یي ناسته ولاړه خوښه وه اکثره به د هغو سره د ډوډۍ خوړلوپه وقت کي یوځای ناست وو، دایي نه ویل چي زه دنیا داره یم د غریبانو سره څنګګه ناسته ولاړه وکړم ، همیشه به د مریضدارانوکورونو ته تلي اود مریضانو عیادت به یي کاوه د هغوسره به یي مالي مرسته هم کوله ، لنډه دا چي ددنیا ټوله ښي ګڼي پرده باندي ختمي وې ، څوداني مسجدونه یي جوړ کړي وه لمونځونه به یي په جمع سره کول اودعلماوو به یي ډیراحترام کاوه ددوی د پاره به یي علمي کتابونه رانیول اودخپل استعداد په اندازه به یي دخپل علم په زیاتولو کي هیڅ دریغ نه کاوه.

له بده مرغه یوازنی کمبود چي د ده په کورکي ووهغه داوو چي زوی یي نه درلودی ، هرکله به خلګګوورته ویل چي دوهمه نکاح وتړي څوالله پاك ورته اولاد ورکړي ، د ژوندانه تر ډیرعمر پوري یي پخپل هغه اوله نکاح پوري ځان مربوط ګڼاه اوصبریي کاوه، خود ژوندانه په تیریدو سره مجبوره سو یو بل واده وکړي همداسي وسول حاضرسو دوهمه نکاح وتړي.

پس له څه مودې الله پاك ورته یوه دانه زوی ورکړي ،ډیره خوشحالي سوه خیراتونه وویشل سول اود هلك په پیدا کیدو سره د تجارطبیعت هم راسته سو خو قضاء فلك ورته ډیر عمر ورنکړ اود خپل زوی زلمي توب یي ونه لیدی په حق ورسیدی ، مخ کي له دې چي په حق ورسیږي د خپل زوی پالنه یي دلمړني ښځي په اختیار کي ورکړه څکه هغه یوازي وه اود اولاد امید یي نه درلودی نو په همدې خاطر چي د هغې رضائیت یي حاصل کړي وي داهلك یي دخپلي میرې په نامه کړ څوخلګ داهلك ددې د زوی پنوم وپیژني ، خپله موردې لکه دایي غوندي پالنه وکړي ، داڅکه چي کیدای سي ودې ته الله پاك نور اولادونه ورکړي اوبیا به یي ارمان وخیژي .

د تجارترمرګ وروسته اولنی حالت پاته نسو ګډوډي اوبې اتفاقي ددوستی ځای ونیوي ، زکات اوخیرات ورك سو ، صدقه اود بیوزلا نو پالنه ختمه سوه بل کل حالت داسي بدل سولکه چي یو تعمیر را چپه سي او د آبادۍ پرځای خرابي معلومه سي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسي وسوه څوكاله وروسته ددې دوو بنو ترمنځ هم جګړه شروع سوه اود جدايي نعرې خپرې سوې هري يوې غوښتل چي خپله حصه زياته وښي خصوصاًددې زوى پرسر دعوه ځكه ضروري وه چي دې هلك دخپل پلارميراث په مكمله توګه اخيستلاى سواى ځكه نو ميرې ويل دا زمازوى دى اواصلي مور يي ويل زمازوى دى.

دعوه وقاضي ته ورسيدل ، قاضي شاهدان را وغوښـتل ، اصلي موريي شاهدان درلودل ميري هم د پيسو په مقابل شاهدان رانيول فيصله ډيره وځنډيده ، بلاخره قاضي داسي فيصله وكړه څواصلي مور معلومه كړي.

داهلك واخلى په منځ كي يي دوه نيم كړى يوه خوايي ديوې مور اوبله خوايي د بلي مور . ميرې يي خپل ځان چپ ونيوى .

دهلك اصلي مورچي دافيصله واو ريدل نعرې كړي ( قاضي صاحب ، زه د خپل زوى مرګ نسم ليدلاى دازوى مي وركړه ددې ميرې دي وي څو ژوندى پاته سي ) قاضي چي داخبري واوريدې پوه سوچي ددې هلك اصلي مورهمداده ، نويي هلك واخيستى اوخپلي اصلي مورته يي وسپارى اودعوه يي ختمه كړه.

سوالونه

.1ولي ددې هلك ميرې غوښتل چي داهلك خپل زوى وګڼي؟

.2خداى تعالي (ج) په قرآن عظيم الشان كي دموراو پلار په حق كي څه ارشاد لري ؟

.3رسول الله (ص) د مور اوپلار په باره كي څه ويلي دي ؟

.4د موراوپلار حق ولي پرموږ فرض اولا زم دى ؟

جوابونه

.1ميرې ځكه غوښتل چي هلك خپل زوى وګګڼي څودميره ډير مال او شته دې ته پاته سي.

وَقَضَى رَبُّكَ ﺇِلَّا تَعْبُدُوا ﺇِلَّا ﺇِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ ﺇِحْسَانًا .

.2ترجمه : حكم كوي پروردګارستادهيڅ كس عبادت مكوى مګګرديوه الله همدغه رنګه د موراو پلارسره احسان كوى.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



3.رسول الله (ص) فرمايلي دي جنت دموراو پلار ترپښولا ندي دی ، يعني که اولاد وغواړي دالله پاك رضا حاصله کړي بايد دخپل موراوپلار په نيکو حرکاتو باندي خپل ځان عيارکړي اوپه هغه کارونوپسې اقتداء وکړي چي دقرآن عظيم الشان مطابق وي.

4.دموراوپلار حق ځکه پرموږ لا زم او فرض دی چي دوی هميشه دخپل اولاد د پاره د زړه له کومي خدمتونه کوي ، هغه پالي ، اودهغه روزنه کوي ، ترخپل وس اواندازې زيات دخپل اولاد رضائيت غواړي اود ټولو مصيبتونو په مقابل کي دخپل اولاد په سر لکه سائيبان ولاړوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پور غوښتنه

یو وخت او یوزمان وو ډیره وچکالي راغلې وه خلګګود خپل اصلي ټاټوبي څخه هجرت کاوه اود ژوند د بقاد پاره لیري لیري ځایونو ته تلل اوسفرونه یي کول ،صرف په یوه کلي کي ډیرلږ هغه کسان پاته کیدل چي زمینداره به وه اویا به یي د چینو اوکاریزو په څنډه کي ژوند درلودی ، ځني داسي کسان هم وه چي د تللو د پاره به یي مواشي نه درلودل څوددوی کډي پرې بارسي اویوه بل ځای ته ولیږدول سي.

د نورو وطنو څخه به بعضي مسلمانان راتلل خپل زکاتونه اوخیراتونه به یي په دې خلګګوویشل ، په همدې حالت سربیره د خلګګوژوند هم دومره ښه نه وو،کم خلګ چي پاته سوي وه یود بله به یي کومکونه کول ، په دې خلګو کي یوسړی ووچي عبدلغیاث نومیدی دې سړي په یوه بل ښار کي یو ډیر ټینګ انډیوال درلودی هروخت به هغه دلته دعبدلغیاث کورته راتلی اوکله به عبدلغیاث هم وهغه بل ښارته تلی دوستي ددې دواړو ډیره ټینګه وه. آوازه تیته سوي وه چي په دې کلي کي ډیره وچکالي راغلې ده . دعبدلغیاث ملګګرۍ پوه سو چي حتماً به زما دانډیوال اقتصادي وضع هم خرابه وي نو یو څه پیسې یي د ځانه سره راوا خیستې اومخ دعبدلغیاث کاکا دکور پر خوا رارهي سو منزل په منزل بلاخره راورسیدی ، دکلي د باندي یوه غټه پخواني درخته ولاړه وه چي ډیره ښه سایه یي درلودل ، عبدلغیاث چي په کورکي په تنګ سوی وو راغلی اوتردې درختي لا ندي په چورتونوکي پروت وو چي ناڅاپه دده ملګرۍ پرې راورسیدی سلام یي واچاوه او روغبړیي وکی هلته سره کښې نستل ، پس له سوال اوجواب نه دعبدلغیاث ملګري څه پیسې را وکښې اوخپل ملګري عبدلغیاث ته یي دقرض الحسنه په توګه ورکړې ،عبدلغیاث هم ډیر خوشحاله سودوعاګاني وکړې او وې ویل څوچي ژوندی یم ستا دا احسان به نه هیروم ، خیر یوه دوې شپې یي سره تیري کړي اوبیایي ترې رخصت واخیست او ولاړۍ.

عمردی تیریږي په دې لړکي ډیر کلونه تیر سول دخدای ( ج ) رحم هم وسو بارانونه وسول کښتونه هم شنه سول ، دعبدلغیاث اقتصادي ژوند هم ښه سوخو د خپل ملګګري دقرض الحسنه په باره کي یي هیڅ فکر هم نه کاوه ، یوه ورځ دده ملګرۍ قضاء د خدای وه ناجوړه سو ، د دارودرمل د پاره یي خپل هرڅه خرڅ کړه چي لږ شاني صحت مند سو نود عبدلغیاث دکلي په طرف یي خپله اراده پخه کړه چي هم به د تفریح څوورځې تیري کړي اوهم به خپل قرض الحسنه ترې واخلي.

منزلونه پس راورسیدی بیادواړه ملګګري سره یوځای سول ، یودوې شپې وروسته مسافر ورته وویل (( وروره هغه قرض الحسنه چي مي ستاسره سته هغه راته راکړه زموږ اقتصادي وضع هم چنداني ښه نه ده )) عبدلغیاث چي پخوالاهم په دې باره کي فکرنه کاوه داځل دپیسو ورکړه ورته ګرانه تمامه سوه ځان یي تیراوه ترڅو چي مطلق انکاري سو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافربله لاره نه درلودل ولاړی قاضي ته اوعریضه یي وکړه ، قاضي دواړه را وغوښتل او پوښتني یي ترې وکړې ، مسافر ته یي وویل ته کم شاهد لرې اویادي کوم خط ځني اخیستی دی ؟ مسافروویل خط خومي نه دی ځني اخیستی اوشاهد هم بیله خدای اوهغه درختي نه بل څوك نلرم . بیاقاضي وعبدلغیاث ته وویل ته څه وایي ؟

عبدلغیاث وویل نه هغه درخته مالیدلي ده اونه هم ده ماته پیسې راکړیدي.

جاراوجنجال ډیر وو ، قاضي دخپلي پوهي په درلودلوسره مسافرته وویل ،ته ولاړسه هغي درختي ته ودرېږه ،طهارت وکړه دوه رکعته نفل لمونځ وکړه او بیادرختي ته ووایه چي دالله درضاد پاره قاضي حکم کړیدی راسه اوشاهدي ووایه . مسافر رخصت سواوولاړی.

دلته عبدلغیاث دقاضي سره ناست دی ، خلگ ځي اوراځي یوساعت بعدقاضي مخ دعبدلغیاث وخواته واړاوه اوپوښتنه یي وکړه داسړی راته باوله ښکاره سو، اوس به هغه ځای ته رسیدلی وي ، عبدلغیاث بیله ځنډه ځواب ورکړ، هو قاضي صاحب دالیونی دی ،نه دی رسیدلی . قاضي بیرته پخپل کار لگیاسو. دلته دوی پریږده هلته مسافرپسې راواخله مسافرراغی طهارت یي وکړ دوه رکعته لمونځ یي اداْ اودرختي ته په زاریډ سو درختي هیڅ ږغ اوجواب نه ورکاوه مجبوره سوبیرته رارهي سو . راورسیدی قاضي ته اوسلام یي واچاوه ، قاضي وعلیك کړ بیا مسافروویل.

قاضي صاحب هرڅه چي مي وکړه درخته راحاضره نه سوه . قاضي وویل، هغه ستانه مخ کي راورسیدل اوشهادت یي ووایه چي تا وعبدلغیاث ته پیسې ورکړیدي ، مخ یي دعبدلغیاث وخواته واړاوه او ورته وې ویل ، ورکه دده امانت که چیري ده وتاته دهغې در ختي لا ندي پیسې نه وای در کړې نوتاته دهغې درختي ځای اومنزل څه معلوم وو کله چي مادرڅخه پوښتنه وکړه .عبدلغیاث خجالت سو اودخپل مسافرملگګري حق یي اداء کړ .

سوالونه

.1آیاعبدلغیاث داسلام دارشاداتو مطابق کاروکی ؟

.2آیادعبدلغیاث ملگری ښه سړی وو ؟ ولي قرض الحسنه ورکړه ؟

.3په اجتماعي ژوندکي باید سړی لکه عبدلغیاث غوندي اوسي ؟

.4قاضي که علم نه درلودلای یایي رشوت اخیستی وای نو څه کیدل ؟

جوابونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.1هیڅکله : عبدلغیاث داسلام دارشاداتوپرمبناباندي حرکت نه درلو دی.

.2هودعبدلغیاث ملگری ډیرښه سړی وو،په دې خاطريي وعبدلغیاث ته قرض الحسنه ورکړه چي هغه ډیر په خراب حالت کي وو یعني وچکالي اوغریبی دده د ژوند وضع ورته خرابه کړیوه.

.3په اجتماعي ژوندکي بایدسړی دعبدلغیاث دملگري غوندي واوسي.

.4قاضي که رشوت اخیستی وای یايي دعلم معلومات کم وای حتماً حق تلفي منځ ته راتلل اودعبدلغیاث دملگري په حق کي ظلم کیدی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صبر او تحمل

دجهان په لويو سمندرونو كي يوسمندردى چي دبحرهند پنوم ياديږي . يو وخت اويوزمان په دې سمندر كي يوه لويه كښتۍ چي دډيرو مختلفوخلګوڅخه ډکه وه پخپل حركت سره چليدل په دې كښتۍ كي يوه مسلمانه كورنۍ هم وه چي غوښتل يي چيرته سفر وكړي . داوبوپه تام قدرت كي ناڅاپه دكښتۍ چلوونكي اعلان وكړ چي دكښتۍ حالت په خطركي لويدلى دى تاسي د لامبو وهلو جامې اوملبوسات واغوندۍ . ټولوخلګوته داجامي اوملبوسات ورسيدل ، خلګو ډيرهياهوي اوشورماشور جوړكړى وو ، نارې اوغلبلې دكښتۍ دهري خواڅخه اوريدلې كيدې .په دې كښتۍ كي كومه يوه مسلمانه كورنۍ چي ناسته وه هيڅ ږغ اوفرياد يي نه وتۍ ټوله چپ اوكرار پخپل ځاى كي ناست وه اوصبريي كړى وو د خپلي حوصلې څخه يي كار اخيستۍ.

نابېره دكښتۍ چلوونكي دوباره اعلان وكړ چي كښتۍ بيرته جوړه سوه اوحالات ټوله تر كنترول لا ندي دي . خلګ ټوله خوشحاله سوه اوبيرته پخپل ځاى كي آرام كښي ناستل . دكښتۍ مشر چي دكښتۍ په خلګو باندي پام لاره اوټوله يي پخپل نظركي نيولي وه راغۍ اوددې مسلماني كورنۍ دمشر څخه يې پوښتنه وكړه ، ټوله خلګ په شورماشوراوهياهوي كي وه ولي تاسي پټه خوله ناست واست وى ويلاې سۍ ددې علت څه وو؟

دكورنۍ مشرورته وويل . موږ مسلمانان يو اوعقيده په مكمله توګه پر خداى باندي لرو ، موږ پهيږو چي مرګ اوژوند دخداى په قدرت كي دى دځان ساتنه فرض ده موږ لازمي تدابير د كښتۍ د اوامرو سره ونيول نور نو د نعرواوغلبلو جوړيدل كومه ګټه نلري موږ صبركړي وو اود خپل پروردګار رحم ته منتظروو. دكښتۍ مشر چي داخبري واوريدې􏰀يقين يي حاصل سوچي رشتياهم دمرګ او ژوند صاحب د خيراوشرصاحب دعزت اوذلت صاحب د جهانيانو پروردګاردى بندګان دخپل تدابير نه بغير هيڅ هم نسي كولاى بايد د پروردګارعالم قدرت په حقه سره وپيژني ، دمسلماني كورنۍ مشر بيا دقرآن عظيم الشان كم جلد چي ورسره وو خلاص كړ اودا مبارك آيتونه يي ورته وويل

ليس لل انسان الا ماسعي.

ترجمه : نسته دانسان دپاره هيڅ مګر دهغه تلاښ .

خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاىَ لِيَبْلُوَكُمْ دَيُّكُمْ دَحْسَنُ عَمَلًا

ترجمه : مرګ اوژوند پيداسويدى ددې خبري په خاطرچي كم يوستاسي نيك عمل كوي.

قُلْ لَا دَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا رِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : نه یم زه مالك دځان دپاره دضرر( تاوان ) یانفع ( ګټه ) مګرپه اراده دالله (ج) . همدغه رنګه عزت ورکوي هغه چاته چي اراده یي وسي اوذلت ورکوي هغه چاته چي اراده یي وسي دژوند په ټولو حالتونو باندي قادردی.

دکښتۍمشرددې خبري په اوریدلو سره ډیرمطمئن سو او مسلماني کورنۍ دمشر څخه یي ډیره مننه وکړه دځان سره یي هوډ وکړ چي د حق په ویلو او پیژندلو کي باید سستي ونکړي.

سوالونه

صبر په کوم حالت کي ضروري دی ؟

خدای پاك دصبر په هکله څه ویلي دي ؟

جوابونه :

صبر په هغه حالت کي لازم اوضروري دئ چي انسان په وس کي دمدافعې توان نه وي لکه : زلزله دباد اوباران طوفانونه ، وچکالي یا دباران نه کیدل.

دوهم : الله پاك دصبر په هکله ډیر ارشادات لري اوقرآن عظیم الشان زموږ رهنما دی . او الله پاك ویلي دي چي زه دصابرینو سره یم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملگر توب

په یوه ښهرکي ډېر مشهور تجاروو یوه دانه زوی یي درلودئ خورا ډېر پرگران وو ددې زوی د پاره یي دژوندانه هرڅه تیار کړي وه هېڅ نوع کمي داسبابوددې هلك په ژوندانه کي نه لیدل کیدئ ، دایي گاني د وړکتوب څخه ورته حاضرباشه ولاړي وې دسپورټ اوساعت تیرۍ سامان دهري خوا څه ددې هلك په خدمت کي وه ، معلمین ،استادان ،ملا ئیان ټوله ددې هلك دعلم په زیاتولوکي لگیاوه دعلم اوادب لاره ورته خلاصه وه ، دنیزه بازي ، آس سورلي اوغشي ویشتلوسامان هم دښکار کولو په خاطر دمجربو استاذانوله خواڅخه ورته په تدریس اویاهم ښودلو سره دا زمینه مساعده کړې وه چي خپل د فراغت وخت په ډېره آرامه او خوشحاله فضاء کي تیرکړي ، هغه خوا دده پلار هم ډېر کوښښ کاوه چي دایوه دانه زوی یي په تجارت اوسوداگرئ باندي مکمله پوهه ولري څکه دده تر مرگ وروسته ددې دنیا اوجایداد مالك همادده یوه دانه زوی کیدای سي.

خیرددنیاکارونه دي هلك لوی سو دخپلوملگرواوانډیوالا نو سره په مشغولا د شپې ترناوخته پوري دکوره څخه لیري وي : کله ناکله به پلار ورڅخه غوښتنه کول چي کورته وختي وختي راځه . خوهلك چنداني پخپل فکر کي داخبره نه ځایول . څو د هلك پلار هوډ وکړ چي دهلك تربیه ترخپلي څیرني لا ندي ونیسي هلك چي دا وخت د21- 22 کالو وو پلار ورته وویل زویه په دې دومره عمر کي دي څومره انډیوالان اوتکړه ملگري پیداکړیدي ؟ زوی ورته وویل باباجانه ملگري خو مي ډیردي خودرې نفره مي داسي کسان دي چي په مرگ او ژوند راته ولاړدي . پلاريي ځان خوشحاله وساتۍ اونوري پیسي يي ورته ورکړي او ورته ویویل زویه دادرې ملگري دي ټینگ وساته . خیر یوکال دوه نورهم تیر سوه پلارکله ناکله دزوی څخه دده دانډیوالا نوپوښتنه کوي اوزوي هم ددې درو ملگرو تکړه توب او وفاداري ورته وایي . لنډه داچي پلار ډېر کوښښ وکړی خپل زوی دایلا گښتۍ څخه راوباسي خو په ظاهره نه کیدل، څوبلاخره یوه شپه ددې هلك پلارچي د بوډا توب حالت ته رسیدلی ووخپل زوي داسي وازمویه.

یوه دانه پسه يي حلال کړ اوسريي ورڅخه پرې کړ په یوه جوال کي يي واچاو د جوال سر يي ټینگ وتړی کله چي زوی نیمه شپه کورته راغی نو پلارورته وویل.

زویه ډېرکلونه مخ کي ما دیوه کس سره دښمني درلودل او بلاخره نن د ورځي سره مخامخ سوو د جنگ حالت ووماهغه خپل دښمن وواژه اوسرمي ځني پرې کړ دادئ په جوال کي مي اچولي دئ هیڅ څوك نه وه خوکله چي رارهي سوم ومي لیدل چي یوه سړي ددیوال ترشاه خپل ځان پټ کړی ووشاید هغه لیدلئ یم ،صباټوله خلگ خبریږي اوخامخواداسړی خپل دسترگولیدلئ حال بیانوي نوته داسي وکړه ولاړ به سو ستا هغه یوه ملگري ته ، د تاوان اوبندي گري ټول خرڅ يي پرما صرف دی دي دومره ووایي چي دا کار ماوکړي څودقاضي دحکم څخه زه وژغورل سم دده ټول مصارف دکوراوبندي توب يو په دوه زما په غاړه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلك وويل دا خوښه خبره ده ځه چي ځو ، رارهي سول نيمه شپه ده دخپل ملگري كورته را ورسيدل دروازه يي وټكول ملگرى را ووتي دسترې مسي نه وروسته په دروازه كي دهلك پلاردا خپله نكل ورته وكړه د زوى ملگري خپل ځان تير كړ او پلارته يي آواز وكړ ځو وروسته تر سوال جواب پلاريي انكاروكړ.

خيرپه دوهم ملگري دهلك باندي رضاء سول ،پلاراوزوى دواړه هلته لاړل ، ددې هلك دوهم ملگري هم انكاروكړ ، بيادريم ملگري ته ور رهي سول نيمه شپه ده كوځه په كوځه گرځي ځو ورسيدل دروازه يي وټكول ملگرى را ووتئ دقضيه داوريدلو څخه وروسته ده هم انكاروكړ. پلاراوزوي دواړه نااميده سول بلا خره پلار وخپل زوي ته وويل .

زويه راځه زماهم يوملگرى دى هلته به ولاړسو چي څه كيږي . رارهي سول راغله دخپل پلارملگري كره دروازه يي وټكول آواز راغئ څوك يي ؟ تجارخپل نوم ورته وښودئ زه يم ، جواب راغي درغلم . خودرك معلوم نسو ، بيايي دروازه ورته وټكول ، آوازراغئ درغلم . خوبياهم څه ځنډ پكښي ووتې ، په دريم ځل چي يي دروازه ورته وټكول نودروازه خلاصه سول ، تجار پوښتنه ځني وكړه ، ولي دي دومره ځنډ وكړ ؟ . ملگري ورته وويل . په اول ځل چي دروازه وټكيدل نوزه خو پوه سوم چي ته يي ولي په دې زړه كي راوگرځيدل چي الله دي خير كړي په دې نيمه شپه كي څه نكل دئ بيا مي دځانه سره سوچ وكړ چي كيداى سي په كوركي خداى مه كړه د زنانه مريضي ورته پيداسوې وي نوزه خوهلته خدمت نسم كولاى ځكه مي دهلكو مور راكښينول دوهم ځل چي دروازه وټكيدل نومي دځانه سره داسوچ وكړچي كيدايسي څه پيسې يي پكاروي ځو ولاړم دبكس نه مي پيسې راواخيستي خاماخوا ځنډ وسو په دريم ځل دادى درې سره ستاسي په خدمت كي حاضرسوو . وروسته تجار خپله نكل ورته وكړ او په جوال كي دسرې سر ورته وښودى .

ددې تجارملگري چي داقصه واوريدل نويي داسي وويل.

ته دا جوال راكه چي زه يي وگورم ، تجارجوال وركړ ، ملگري جوال واخيستې اودې تجاراوزوگ ته يي وويل ځى الله مو مل سه ، په دې شپه كي څوك دچادروازه نه ټكوي اودروازه يي وتړل ، هرڅه چي دا تجارورته وويل دروازه خلاصه كړه . دى هم داسي ورته وايي ستاسي زما سره څْه كاردئ ځئ ولاړ سئ اوس به خلگ راخبرسي بيا به وايي څه نكل دئ ځي الله مو مل سه . ترډيروخبرو اترو وروسته ددروازې ترشاه بلاخره ددوهم ځل دپاره دروازه ورته خلاصه سول كورته دنه ننوتل او تجارخپله قصه داسي ورته بيان كړه.

داد انسان سرنه دئ بلكه د صباد پاره د خيرات د پسه سردئ مادا خپل زوى په ازمايښت كي واچوى هرڅومره چي مي ورته وويل ددې زماني ملگري ځو په اصل اوختې ونه پيژني ورسره انډيوالي مه كوه خودغه زمازوى نه منل زه مجبوره سوم دغه رنگه ډرامه مي ورته جوړه كړه .

تردې وروسته د تجارزوى دخپل پلار خبره ومنل د بيگانگانو او نا پيژندل سوي كسانوڅخه يي خپل ځان وساته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوالونه

.1ددې قصه مطلب څه دئ ؟

.2دتجار د زوی ملگري څوك وه ؟

.3دتجاراصلي ملگرى څوك وو ؟

جوابونه

.1ددې قصه اصلي مقصددادئ چي بايد خپل دوست او دښمن وپيژنو يعني دداسي كسانو سره دوستي وكړو چي هغه په مكمله توگه و پيژنواو ياهم دصادقه مسلمان حالت ولري.

.2داهغه انډيوالان وه چي غوښتل يي دتجاراصلي سرمايه لوټ اوتالا كړي اودخپل ځان د خوشحالي لاره ولټوي.

.3دتجاراصلي ملگري هغه صادقه مسلمان وو چي خپل هو او ني يي په يوه حرف ختمول د پوره صداقت اوايمان دارى يوه ټوټه وه .

نوټ : داسلام په بڼه كي ډيرمنافقين ،يهودان اوعيسويان داخل سويدي ټولومسلمانانو ته دادرخواست دى چي دخپل پوهي اوعقل څخه كارواخلي . داسي كار ونه كړي چي په ورځ كي دآّخرت شرمنده اود حضرت رسول مقبول (ص) دشفاعت څخه محروم وگرځي .

داسي ډيري طريقې وجود لري اود منافقينو له خوا څه منځ ته راغلي دي چي اكثره خلگ نه په پوهيږي . خصوصاً دكفرسره ددوستۍ لاري اوترونونه په داسي حال كي چي د ايمان دضائع كيدوخطرې ورسره ډيري دي نن صبارواج سويدي . ددنياتجملي زرق وبرق اكثره خلگ غولولي د دوستۍ او دښمنۍ توپير يي ځني ورك كړيدئ . دوطن ،قوم او شخصي گټه په نظر كي نيول بايدپه هغه صورت كي ومنل سي چي د قرآّن پاك په مباركوارشاداتوباندي قايم اود حضرت رسول اكرم (ص) په هداياتو اوعملكرد سره مطابق وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غرور او تکبر

په تیره زمانه کي دوه ورونړه وه یو یي تجار اوبل یي غریب کاره وو دواړو خپل روزګارکاوه . تجار ورور پخپل تجارت لګیاوو ډیراولا دونه یي درلودل خورب العزت ورته زوی نه وو ورکړئ . په اّخره کي پاك پروردګارورته یوه دانه زوی پس له ډیري مودې نه ورکړ ډیره خوشحالي سوه اوډیر خیراتونه وویشل سول د وخت اوزمان په تیریدلو سره د تجار زوی لوی سو څنګه چي ډیرنازولي وو دکسب او کار سره یي علاقه نه درلودل هغه یو متل دی چي وایي (( پلار ګټلي زوی ته آسانه ده )) په همدې بنا باندي د تجار زوی خپله شپه اوورځ تیرول د پلار د تجارت دنیایي ډیره وه کمه کمي پکښي کي نه لیدل کیدل څکه خو د زوی د پاره دعیاشئ اوساعت تیرئ دروازه خلاصه وه.

خیر هغه بل پلوددي تجار ورور چي وو هغه ته هم الله پاك زامن ورکړي وه ټوله پخپلو خواریو او زحمتونو لګیاوه خپله شپه اوورځ یي په کاراو زحمت سره تیرول د چاڅخه یي قرض نه غوښتئ هرڅه چي به یي پیداکړه په هغه به یي قناعت کاوه دعلم ادب اوپوهي سره یي علاقه درلودل کله چي به په مجلس کي څوك ورسره کښي نستئ داسي به یي ګڼل چي همیشه ورسره ناست وای ددنیادخبرٌو څخه یي چنداني ښه نه راتلل اوډیره مینه محبت یي هم وبیځایه خبرو ته نه ښکاره کاوه داقتصاد له نقطهء نظره ضعیفه وه خو په ژوندانه کي داخلا ق پوهي او رفتار درجه یي ډیره لوړه وه ، ژوند وو تیریږي د اقتصاد ضعیفوالي ناجوړي اودرملو نشته والي د تجارد ورور حالت نورهم خراب کړڅو بلاخره په قضا ورسیدئ مخ کي له دینه چي وفات وکړي خپل زامن یي را وغوښتل په نصیحت یي داسي شروع وکړه

(( زامنو زه څه نلرم چي تاسي ته یي په میراث پریږدم خو دومره درته وایم چي دالله پاك ساتنه تر ټولو لوړه او غوره ده څکه خو زه تاسي پرخداي پاك سپارم اود هغه په لطف او مهرباني سره درته دښه ژوند غوښتنه کوم )) په حق ورسیدئ.

( انا لله وانا الیه راجعون ). اوس نو تجار یوازي پانه سویعني د ورور غمونو دی هم کرار اواّرام پرې نښود څکه همیشه به په نا خوالواو غمونوکي ورور ورسره ملا تړوو د دوست او دښمن په مقابل کي به یي د یوازي والي احساس نه کاوه د قضا خبري دي هیڅوك ژوندی نه پاته کیږي بیله الله (ج) څخه یوه ورځ مرګی دده دروازې ته هم ودریدئ ده هم د نورو مسلمانانو پشان خپل زوي را وغوښتئ اوداسي وصیت یي ورته وکړ. (( زویه دنیا پاني ده دهیڅ کس سره وفا او بقا نه کوي کیدای سي زه هم ستاسي دمنځه څخه ولاړ سم خو تاسي ته مي دومره دنیا اودولت پرې ایښی دئ چي تاسي په اّرامه سره ژوند وکړئ او وهیڅ کس ته احتیاج نسئ )) دایي وویل اوخپل روح یي وحق ته وسپاره ( اناالله وانا الیه راجعون ).

ژوند دی بدلیږي روز ګاردی تیریږي په زمانه کي تغیرات اوتبدلات راځي د تجار زوی چي په کاراو روز ګار باندي بلد نه وو څو کاله بعد د پلار د جایداد او دنیا څخه محروم سوڅکه د شپي او ورځي خوراکونه د انډیوالا نوسره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسته ولاړه او بيځايه مصرفونه ددې باعث سوه چي خپله هستي اودارايي ختمه کړي مجبوره سو په ډير بد حالت کي د خپل ژوند ساوکاړي ، اوس لکه دليونو غوندي بيځايه بيځايه په کوځواو بازارو کي گرځي چي ناځاپه دخپل د اکاد زوی سره مخامخ سوقسمت او تقدير د هغو خراب اقتصاد پروردگارعالم پخپل رحم اومهربانۍ سره ښه کړی وو او حتي ترديې اندازې چي نژدې وو تجارت وکړي . تر ستړي مسې وروسته دواړه د اکا زامن د خپل اصلي حالت څخه وتلي دي يعني يويي چي ډير نازولي اوشته من وو اوس بيوزلي او خيرن ښکاري، خوهغه بل چي غريب کاره اوخيرن وو اوس په پاکو جاموکي عزتمند ښکاري ، دا چي د دوستۍ اړيکي وي يو د بل سره يي وپيژندل ، بلاخره د تجار زوي ورڅخه څو روپۍ په قرض وغوښتي چي دا حالت نورهم د حيراني سبب سو .

اوس نو گرانو ويونکو ستاسي څخه دا پوښتنه کوم ،

.1ددوی په منځ کي څه فرق موجود وو ولي په تغير راغی ؟

.2دځان اواولاد سپارل پر خداي ( ج ) ښه ده اوکه پردنيا ؟

جوابونه

.1دانسان اوانسانيت په لحاظ ددوی په منځ کي فرق موجود نه وو خوددوی په اقتصادي ژوندکي فرق وو، تغيرځکه راغي چي د تجار زوی کارنه کاوه او تنبل وو د پلار و لاس ته يي کتل دپلارتر مرگ وروسته هم هغسي تنبل اوبيکاره پاته سواو د آراموالي زمينه لا ورته برابره سوه . ددې بد چانسۍ گناه ټوله د واليدينو په غاړه ده ځکه د اولاد تربيه په وړکوالي کي د موراو پلار په غاړه ده مگردده داکازامن په کارو لگياوه پلاربه هميشه ورته ويل (( د بيکاره خدای بيزاره )) نتيجه داسوه چي په اتحاد اويو والي سره يي خپل اقتصادي ژوندښه کړ . زموږ د پلرونو څخه دامتل پاته دی چي هغوی د قرآن عظيم الشان څخه نقل کوي (( په اتحاد او يو والي کي دالله پاك رضا شامله ده او په دنيا کي سرلوړي )).

بي زحمته راحت نسته زماوروره *که عزت غواړي زحمت در لره بويه

.2تجار خپل زوی په تجارتي گټه باندي وسپاره ، دالله پاك قدرت اوعظمت ورڅخه هيروو، هيڅکله يي دا فکر نه کاوه چي هستي اونيستي دالله پاك په قدرت کي ده . خوددنياد ژوندانه دپاره دانسانانو سعي اوتلاښ ضروري کار دی . دعلم زده کړه اودحلا ل روزي پيداکول فرض دي داسي چي دالله ( ج ) عبادت فرض دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ : دمګټو اوبيکاره انسان په سر د پروردګارعالم لعنت دی دمفت خوره اوقرآن خرڅونکي شخص په سر دالله پاك لعنت دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عقل منده ښځه

پوه هوښیاره اودیوه سرمایه داري کورنۍ ښځه یوه ښځه وه ، ډیرمال اودولت یې درلودی .خپل تجارت یې چالان وودنیا عیش اونوش ورته مهیاوو، دهرکس خوښه وه چي ورسره نکاح وتړي خودې هوښیاري ښځې په پرهیزګارۍ اوعبادت سره خپلي شپې او ورځې تیرولې ،غریب پروره اودډیري لويي حوصلې خاونده وه ،دخپل تجارت دپاره یې میر زائیان اوسوداګر درلودل ، دخپل پاك نیت اوصفا نظر سره یې په هرچا اعتبارکاوه ، پخپل قوم اوقبیله کي مشهوره وه داسي ځوك نه وه چي ددې ښځې دښو اخلاقو په تعریف به لګیا نه وو، ددنیاوو ډیرو ملکونو ته به یې د اغوستلو اوخوړلو جامي اوخوراکه موادو( غله جاتو ) صادرول او واردول خپله پیشه ګرځولې وه ، دخپلو نوکرانو ، کارګرانو او کسب ګرو د حالت څخه بل کل بې خبره نه وه

ددنیا ژوند دی عمر تیریږي یو وخت او یو زمان یې دخپلو تجارتي سامانونو د راوړلو او خرڅولود پاره یې یوشخص وټاکئ دا ځوان هم ډیر صادقه او راست کاره سړی وو، د تجارت سامانونه یې ورته په ګټه خرڅ کړل او دا ځل یې ترتولو وختونو مخ کي ډیره ګټه وکړه ښځې دانوی ځوان په نظرښه ورغئ قسمت دالله (ج)دی ډیرعمربعدیې دواده خیال په نظر کي ورغۍ الهي تقدیرات خپل کارکوي ځکه ددې انجلي او ددې ځوان ترمنځ رابطه دنکاح ټینګه سوه اود دواړو په موافقه دواده ترتیبات ونیول سول ، پاك پروردګار ددې نوي ژوند څخه څلور لونې اودرې زامن ورکړل ،دې عقل مندي ښځې خپله ټوله دارايي دخپل خاوند په اختیار کي ورکړه حتي تردې اندازې چي دخوړلو توان اوقدرت یې د یوه وخت د پاره هم د لاسه ورکړځکه ددې خاوند یو پرهیز ګاره متقي ځوان وو، ددنیاد ټولولو اوساتلو سره یې چنداني علاقه هم نه درلودل ، دې حوصله مندي ښځې هم د خپل خاوند په خدمت کي د خپل هرڅه نه تیره وه څه چي به خاوند ورته ویل دې به منل او په هغه به یې عملي کول ،داسي معلومیدل چي پخپل خاوند باندي عاشقه ده اوخاوند هم ددې ډیر خیال ساتئ.

قسمت اوتقدیردئ دهغه لوی منزل اوتجارت څخه وداسي حال ته ورسیدل چي د هرسړي اوانسان به زړه پرې سوځول کیدئ خو پروردګار عالم ودې ته دومره حوصله ورکړې وه چي دخپل میړه د رضاد پاره یې خپل ټول ژوند وقف کړي وو . ددې زامن ورته الله پاك په وړکتوب کي پرې نښودل چي لوی سي ، ولي ددې ښځې لوڼي الله پاك ورته لوی کړې چي هره یوه یې داحترام او قدر وړ وګرځیدلې ،ددې ژوند هم پاك پروردګارډیرکړي نه وو دې هم د دنیا څخه سترګي پټي کړي ( اناالله وانا الیه راجعون ).

دیوې لورڅخه ورته رب العزت دوه هلکان ورکړه ډیرښایسته اوپه لوګ والي کي دعزت خاوندان وګرځیدل ، څنګه چي ژوند په تیریدو دی دا دنیاهم په تیریدو ده دادوه په ثمر رسیدلي ځوانان د خپلي انا غوندي ډیر د صبر او حوصلي خاوندان وه خو په ژوند کي د دنیاد جاراو جنجال په داسي حال کي چي هیڅ ګناه یې نه درلودل شهیدان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سول ددې ځوانانوعملکرد موږ ته يو داسي روښانه قانون پرې ښود چي دآخرت تروږځي پوري به دخلقودرهنمايي اوهوښيار توب سرمشق وي .ښه نو ګرانو ويونکو

.1ددې ښځي نوم څه وواود چاسره يې نکاح و تړل؟

.2ددې ښځي دوه لمسيان څه نوميدل ،د چاسره په جګړه کي شهيدان سول ، او په کوم ځای کي ؟

جوابونه

.1داصالحه اوحوصله منده ښځه حضرت بي بي خديجه (رض عنها) وه چي دحضرت محمد(ص ) سره يې نکاح وتړل اود اسلام راوړلو په غرض د جهان د مسلمانانو اولينه انسانه وه چي ورته د مسلمانانو مور ويل کيږي.

.2دحضرت بي بي خديجه يوه لوروه بي بي فاطمه الزهرا نوميدل چي دحضرت علي کرم الله وجهه په عهدکي لويدلي وه اودوه زامن يې درلودل ( امام حسن اوامام حسين ). دوی دواړه د يزيد د قدرت په وخت کي په شهادت ورسيدل ، حضرت امام حسن (رض) په زهرو سره په مدينه منوره کي اوحضرت امام حسين (رض) دکربلا نومي ځای چي په عراق کي موقعيت لري د72 تنو اصابوکراموسره چي په هغوکي دحضرت عمر(رض) زوی هم شامل دی په شهادت ورسيدل.

اناالله واناالیه راجعون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعدل جونگړه

يوپادشاه ووچي ډيررحم دل اومهربانه سړی وو، د شپې او ورځې به دخپلو رعيتو سره په راز دخبرو لگياووحتي دشپې به يي هم گښتونه کول اود غريبانو دحال څخه به يي ځان خبراوه ديتيمانو او کونډ يانو حال او احوال به يي اخيستی د ناجوړانو د پوښتني د پاره يي عليحده وخت ټاکلی وو، شفاخانو ته به تلئ د دوا درمل اوپرستارئ په باره کي به يي د ناجوړانو څخه معلومات حاصلول ، کوم ډاکترچي به د ناروغانوسره ښه وضع نه کول هغه ته به يي سرزنښت ورکاوه، د خلقو په ودونو کي به يي اشتراك کاوه خو څوك به نه په پوهيدل . د اصراف په صورت کي به يي دواده مشران را وغوښتل او بيا به يي ورته نصيحت کاوه چي ډيراصراف کول دخدای اود رسول دښمنان اود شيطانانو وروڼه دي . په منډي گانو اود بازار په نرخ اونوا کي ډير باخبره وو چا په گرانی باندي اجناس نسوای خرڅولای ، دسود خورانو سخت دښمن وو، تجارانو او بډايانو چي به پيسي په بانکونوکي ايښودلي د هغه سخت امانت داره وو، گټه به يي دشريکانو ترمنځ د پيسو داندازې په نسبت ويشل ، لنډه داچي خپل رعيت پر گران وو، غلا ، لوټ ماري اوپه وطن کي د نا آرامی اچولوسره نه پخلا کيدونکي مبارزه کوله ، عدالت يي پرعام اومعتبرو خلگويو وو.

څه سردي پرله گرځوم د نکل کاردی زموږ د پاره د درس اوعبرت خبري دي يوه شپه د خپل گښت په مطابق دکوره راوتی په يوه کوڅه کي گرځي چي نا ځاپه د يوه کوره څخه داسي آواز په غوږ ورغي ( پادشاه به په خپلو بنگلوکي ناست وي پردسترخوان به يي د پروردگارعالم راز راز نعمتونه پراته وي هغه به زموږ د بيوزلا نو دحاله څخه څه خبروي په دسترخوان کي يوه وچه گوله ډوډی هم نلرو چي په آرامه يي وخورو) پادشاه چي دا خبره واوريدل وا پس بيرته ولاړی اوسهار يي دا ښځه وخپل در بار ته را و غوښتل اود تيري سوي شپې خبره يي د ځانه سره پټه وساتل ښځي خپل دغريبی حال ورته بيان کړ، پادشا ودې ښځي ته وويل ( نن غرمه زموږ سره ډوډی وخوره ) خير غرمه سوه دسترخان هموار سو ښځي ته يي وويل راسه ډوډی وخوره ښځه هم راغله پردسترخوان کښينستل بسم الله الرحمن الرحيم يي وويل او ډوډی خوړلو باندي يي شروع وکړه چي يو دوې گولې يي نه وې خوړلي ناڅاپه يي سترگي په يوه دانه شمشير باندي ولگيدې چي په تيره نوك سره ددې پرسرباندي په داسي حالت کي ځوړند وو چي په يوه ډير نازك تارباندي تړل سوي وو داسي گمان کيده چي همدا اوس راشوه کيږي اوددې ښځي په سر کي به ښخ سي ، دې ښځي دايوه غرمه ډوډی په ډيري ويري سره وخوړل که څه هم پر دسترخوان باندي ډير سالن اوميوي گاني پرتې وي خود هري گولې په اخيستلو سره داښځي د خپل مرگ انتظارکاوه کله چي ډوډی يي وخوړل نوشکر يي وايستی چي الله پاك ورته بيا ژوند ورکړي.

پادشاه ډوډی ترخوړلو وروسته دا ښځه وخپل دربارته را و غوښتل او ورته وبويل ( څنگه وه ډوډی خوند وکړی ) ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې ورته وويل:

)تازه غوښتې وم چې ماووژنې خو الله پاك زه مړه نكړم. (

پادشاه وخندل او ورته وې ويل ( دالله پاك پرنعمتونو باندي بايد هرانسان شكر وكاړي پرخپل دسترخوان وچه ګوله ډوډۍ په بيغمۍ سره څومره ډير ښه خوند كوي ،ولي د بل په دسترخوان كه زرنوع نعمتونه هم وي ولي د بيري په وخت كي هيڅ خوند اومزه نلري ، كومه خبره چې تادشپې وكړه هغه ما واو ريدل اودادی ته مي را وغوښتې ښه سو چې ودي ليدل د پادشاه پر دسترخوان كه زرنوع نعمتونه سته دومره د بيري سره دي چي پادشاه د هغه ډوډۍ په مزه باندي نه پوهيږي ، ځكه دخپل رعيت سره مينه اومحبت اود هغومشرتوب د داسي شمشيرشكل لري لكه چي ستا پر سر باندي ځوړند وو، كه غفلت وكړم حتماً دا شمشيرزما پرسرلويږي اوكه عدالت كوم همداسي دشمشير ترسيوري لا ندي بايد واوسم.

سوال

.1ګرانو ويونكو آيا پادشاه رشتياويل؟

جواب:بلي هرهغه وخت چي مورډ خپل احساس مسؤ ليت وكړو د مشرانو احترام او پركشرانو باندي مشفق اوسو د پرور د ګارعالم د رحمت اود رسول الله (ص) دشفاعت څخه به په ورځ د محشربهره مندسو او په دنياكي به هم د خلقوپه منځ كي د درناوي اوعزت خاوندان وګرځو.

## بدعتونه

د موټرانو د اودريدلود بس تم ځاى وو دا هډه ډيره مشهوره وه ځكه په دې هډه كي د شيخ كڼ چڼ بابا د زيارت موټران دريدل خلګ به د ډيره ليري ځايه څخه په سفر را روان وو څو دې هډې ته به يې ځان را ورساوه او بيا به د زيارت كولو او مراد اخيستلود پاره زيارت ته تلل ، عجيبه خبره خولا داده چي بيشماره زنانه به هم ورته را رواني وې . د زيارت پر سر به جنډې دومره په مينه اومحبت سره ځړيدې تا به ويل كه وو يا نه وو د خير او شر مالك همدا زيارت دی د جنډو به پهلكړي باندي رنګارنګ ټكران ځوړند وه ، د زيارت د پاسه به داسي ښكلي ښكلي څادرونه همواريدل چا به فكر كاوه چي د زيارت شيخ كڼچڼ بابا د واده شپه ده ، حلواګاني ، خيراتونه او نظرونه به په ډيرشوق سره و زيارت ته راوړل كيدل بيا به د شيخ كڼ چڼ باباڅخه دخپل مراد د پوره كولو درخواستونه كيدل

ددې خلګو په لړ كي يوه بوډا ښځه وه چي هغې به په حق اوناحق سره د خپلي ځوانۍ نكلونه د شيخ كڼ چڼ بابا په زيارت پوري مربوط كول او ويل به يې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داداسي رسيدلی زيارت دی ، داسي مرادونه ورکوي ، داسي په خوب کي راځي ، که چيري د مراد حاصلول غواړی بس که دی نه دی همدا شيخ کنېچڼ بابا دی ، د شپې يي په قبرستان کي رڼا وي وي ، وايي دا شيخ کنېچڼ بابا په ژوندني هم کله چي به يي زړه وغوښتئ تورمار به وګرځيدی ، خلګوبه ليدئ د چاسره يي خبري نه کولي هيڅ خوراك يي هم نه کاوه په اشارو سره به يي دآسمان څخه مرغان راکښته کول اوس هم د جمعي مبارکي په شپه په سپينو جامو کي په سپين آس باندي سپور ګرځي او ډيرو خلګو ليدلی دی .همداسي ځني سړو به هم ددې شيخ کنېچڼ بابا په حق کي راز رازخبري کولې همدا په سپين آس باندي سپور او ياهم اکثره سپين آس د زيارت و سرته هرکله ناکله ليدل کيږي ، يوه سړي بيا داسي نکل کاوه.

زما پلاربه ويل : نيمه شپه کي د خپل کښت اوکروندي د اوبو لګولو د پاره را ووتم زما د اوبو نوبت وو، اوبه مي پرمځکه راايله کړې ، چيري پرپلنډه باندي کرار کښني نوستم که مي کتل يوه سپينه لمبه دليري ځايه څخه راروانه ده مادځانه سره فکر وکړ چي دا به څه شي وي ، داسپينه لمبه په ډيره چټکۍ سره د برق پشان راروانه وه ، زه وروسته ډير وبيريدم کتل مي دا سپينه لمبه زماد هغه خوانه تيره سوه ښه مي وليدل چي په سپين آس باندي سپور ډير نوراني په تجلا سره ډك سړی معلوميږي ولاړئ اود شيخ کنېچڼ باباد زيارت وخواته هلته دآس څخه کښته سو او زيارت ته د ننه سو زه پسې ځاروم ، ورغلم ومي کتل چي هيڅ هم نسته همداسړګ شيخ کنېچڼ بابا دی چي د شپې ګرځي او بيا بيرته خپل ځای ته راځي.

دغه زيارت په دې خبرو سره دومره ډير مشهورسوی ووچي حد يي نه وو ،ډيرملنګان به په دې زيارت کي ناست وه خپل چرس اوچلمان به يي ډکول او راوړل سوي حلوا ګاني اوخيراتونه به يي خوړل ، دلمونځ اوعبادت هيڅ درك پکښي نه ليدل کيدی ، د قرآن شريف قرائتونه چا پيژندل هم نه . ملنګان چي بيله هغه هم تنبل اوبې علمه کسان وه د زيارت بلکې وي ، وريښتان به يي د سراو ږيري دانجونو غوندي خو ډير خيرن سوي اوبيا کوځۍ کوځۍ ليدل کيدل د جامواوکاليو به يي 3 ګزه مخکي د چرسوبوی تللی . خير په هره بڼه به خلګ راتلل اودرخواستونه به يي ورکول ، چا به ويل ( يا بابا جي ماته زوي راکه ، چابه ويل ماته ميړه را پخلا که ، چابه ويل زما روز ګار خراب دی ، چابه ويل پما کوډې سويدي دارانه ليري که ، چابه ويل پما پيريانان ناست دي) ، څه سردي ګرځوم په سل هاوو درخواستونه به ددې زيارت د پاره د نراو ښځي له خوا راوړل کيدل ، که چيري په نا څاپي ډول ديوه کس ياشخص په کاراو بار کي پيشرفت راتلئ نودا به د شيخ کنېچڼ بابا د زيارت د پاره يوه بله خوشحالي اود خلقو نوي عقيده پيدا کيدل وو.

دعمرخبري دي تيريږي دعقيدو ژوند دی بدعتونه پخپل اوج سره په نوع دانواعو پيداکيږي تجارتي مسائيل دي څوك په دې بهانه اوڅوك په بله بهانه خطاايستل کيږي اود پيسو دګټي د پاره چلونه دي راوزي . په همدې خاطر د شيخ کنېچڼ بابا زيارت هم تود وو اوډيرو خلګو به دې زيارت ته په درنه سترګه کتل.ښه اوس نو په دې باره کي ستاسي څخه پوښتنه کوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.1تاسي څه عقيده لرى ؟

.2قرآّن پاك په دې باره كي څه وايي ؟

## جوابونه

.1دجواب د پاره تاسي خپله قضاوت وكړى اوجواب ووايي

_2سوال د جواب د پاره قرآّن پاك دداسي آّياتونو څخه ډك دى چي د لا لت كوي پردې هيڅ كس بايد دالله پاك نه بغير د بل كس څخه هغه هم په داسي حالت كي چي خپله ناتوانه او بيوزلي وي د كمك د پاره څه وغواړي خو داخبره دلته د يادولو وړ ده هغه دا چي د دنياد اموراتو د انجامولو د پاره لكه په غم اوخوشحالي كي سره يوځاى كيدل اويو د بل سره لاس غزونه لكه زكات خيرات صدقه سرسايه اوداسي نورساده حالتونه ددې حالت څخه جدا اومستثنا دي . نه بايد زموږ ويونكي د ساده موضوعاتو داخل كول په همدې بحث كي ترخپلي څيړني لا ندي ونيسي زموږ هدف دلته د هغه بدعتي او شرك نيونكي حالت څخه دى چي په قصه كي ورته اشاره وسوه اود شيخ كنېچڼ بابا د زيارت څخه ديوه كاركن او فاعل شخص د اعمالود اجراْ كولو په شكل غوښتنه كيدل.

د قرآّن پاك د ارشاداتو څخه يو ډيرواضح او روښانه دليل چي د هرمسلمان په زړه كي نقش لري را اخلو اوتاسوگرانو ويونكو ته يي وړاندي كوو. په الحمدلله كي د ( اياك نستعين ) په معني باندي ټوله پهيږو هغه دامعني چي ( اې خدايه ستا څخه مدد غواړو) په دې صورت كي چي دالله پاك نه كمك اومدد غواړو بايد پوه سو داكوم حالت دى اوكومه بڼه لري .خوبعضي خلگ چي په اين وآّن سره دالله پاك دقدرت اوعزمت نه ځان بې خبره اچوي يا زيارتونو يا ملنگانو اويا هم نورو بهانوته لاس او پښي وهي دگناه مرتكب گرځي زموږ ددې خبري مصداق دغه مبارك آّياتونه دي.

تائيد دالنساّ سوره 173 مبارك آّيت داسي كوي .

وَلَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا(173) [ النساّ ]

ترجمه :پيدابه نكړي بيله پروردگارعالم څخه بل دوست اوكومك كونكي.

وَقَالَ رَبُّكُمْ ادْعُونِي ﺀَسْتَجِبْ لَكُمْ ( 60 ) الموْمن

ترجمه : ووايه يارسوالله مسلمانانوته ( وايي پروردگارستاسي وغواړي ماقبلول كوم ستاسي د پاره ). ددې آّياتونو په ويلو اومنلو سره پرموږ فرض سوه چي دطاعت اوعبادت لايق يوالله پاك دى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو و زيارت ته تګ اود هغه د پاره دا لا زمه نه ده چي موږ دهغه زيارت څخه څه وغواړو بلکه بايد د زيارت په موجودديت سره بايد اول و وايو ( اسلام عليکم يااهل القبورـ بيا به بيرته ووايو وعليکم السلام يااهل الصبور ) بيادقبر وراسته طرف ته ودرېږو درود په رسول الله (ص) به و وايو بيا به الحمد شريف قرائت کړواو وروسته به درې ځله قل هو والله احد و وايو او ثواب به يې د قبرستان ټولو مسلمانانو ته وبخښو او بيابه دوعاوکړو .

اې پروردګاره ، داسلام په مرده ګانو باندي رحم وکړه سخت ساعت باندي آسانه کړه اودګورتاريکۍ ورته په روښنايي بدله کړه که چيري په دې مرده باندي عذاب وي الا هي پخپل فضل اوکرم سره يي ترې ليري کړه ، موږ چي په دې حالت کي راسو پرموږ هم رحم اومهرباني وکړه .

آمين.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## باور کول

ډېره پخوا زمانه کي يومور اويو زوى وو دواړو په ډېره آرامه فضاْ کي ژوند کاوه ، ددې هلك يوه خور وه چي په کوچني والي کي ورکه سوې وه که څه هم ډېر تلاښ اوکوښښ پسې وسو خوهيڅ خبر يي پيدانسو ، داهلك هم کرار کرار لوئيدى اوچي دزلمي توب وحالت ته ورسيدى نو يو ډېر غښتلي او پهلوان ځني جوړ سو دکلي خلك هم ځني خوشحاله وه ، د هرچاسره به يي په ډېره مينه اومحبت سره خبري کولې ،دضعيفانو سره به يي اخلاقي مرستي کولې اود هغو ملا تړ وو . لنډه داچي کارونه دخداى(ج) دي ددې هلك مور چي ډېره بوډاسوي وه دخداى په رضا په حق ورسيده . اوس نو دامهربانه اوغښتلئ ځوان يوازي پاته سو کورخوند نه ورکاوه يوه ورځ يي تصميم ونيوى چي خپله کډه به ددې کلي څخه وړي او بل کلي ته به ځي ځکه يي نو خپل عهد ټينگ وساتې اوددې کلي څخه روان سو. هله هله هله منزل پرمنزل ديوې درې څخه تيريږي که گوري چي يوه دانه زمرى کم ښکاري ويشتلى اوزخمي کړيدئ زمري چي خپل ماشومان هم درلودل د هغو د ساتني د پاره قابو وو چي څوك يي ښکار نکړي داچي ډېر سخت ژوبل سوى ووچنداني د ښکارکولو توان يي هم نه درلودى ، په اول کي پهلوان ځني وبيريدى خوکله چي يي په ځير ورته وکتل زمرى د حملې نه دئ اود زمري چيچان هم وږي دي نو دداخپل خورجين څخه يي څه ناڅه را وايستل اود زمري و چيچيانو ته يي کښيښوول او يوڅه يي ودا خپله زمري ته هم ورکړه اودايي د ځانه سره وپتيله چي د زمري د چيچيانو ترلوئيدو پوري به خامخوا دلته اوسيږي .

هغه وو چي ددې زمري اود هغه د چيچيانو سره دلته پاته سوهره ورځ به وتې او څه ناڅه ښکار به يي کاوه اودې حيواناتو ته به يي ورکاوه ، څْه سردي گرځوم د زمري بچيان لوى سول اوددې پهلوان سره يي داسي دوستي پيداکړه تابه ويل د يوه کوراوکهول خلگ دي دا ټوله محبت او شفقت ددې پهلوان وو چي حيوانان يي هم د خپل ځان ملگري کړه.

پس له څه وخته وروپه زړه سوه اصلاً په څه د خپل کلي راووتئ دا خو يو ځنگل غرونه او دره ده دلته خو هيڅ هم نه حاصل کيږي بله ورځ يي خپله کډه بارکړه اومخ په منزل رهي سو هله هله د نکل کاردى وږي سو په خورجين کي هم څه نه وه په يوه لويه دښته کي يوې لوي قلعه ته ورسيدى په دې فکر کي سو چي گوندي دلته يوڅوك وي اوڅه به ځني وغواړي د خپل آس څخه تاسو اود قلعه دروازه يي وټكول . که گوري يوه ځوانه ښځه را ووتل او ډېره خوشحاله سوه پهلوان ته يي و ويل راځه خداى دي راوله ميلمه دخداى دوست دْى راسه . پهلوان يي راوستې کورته دننه او په خونه کي يي کښيناوه سوال جواب شروع سو پهلوان خپله قصه ورته وکړه اودايي هم وويل زما يوه خور وه په کوچني والي ورکه سويده کله چي دې ښځي داخبره واوريدل نو ويويل ، گرانه وروره هغه خوردي زه يم ښه سو چي بيا مي ژوندى وليدې اوس به خپله خور د خوراك څه ناڅه درته تيار کړي خودا ډيري ورځي کيږي زه هم وږي يم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير كرار ولاړه سوه اود خوني څخه و وتل ولاړه واّس ته او داّس يوه پښه يي څني وخوړل راغله وخپل وروته يي و ويل ورور جانه اّس دي پر درو پښو راغلی دی؟

پهلوان چي ډير هوښيار اوځيرك سړی وو پوه سو چي كمه خبره ده ويويل هو خوركې . ښځه بيا لاړه اوڅه وروسته بيا راغله وروره اّس دي پر دوو پښو راغلی وو . ورور پوه سو چي والله دا خوبلا ده ، ويل هو خور كې . ښځه بيا لاړه اوبياراغله وروره اّس دي په يوه پښه راغلي وو وروړويل هوخوركی ، داځل پهلوان د ځانه سره سوچ وكړ چي سړيه پښې كاږه كه ني تا به هم وخوري . ښځه بيا راغله وروره اّس دي په سينه باندي راغلي وو ورور ويل هو خوركې ، خو زه ډير تږ ي يم . خوريي وويل دغه دی جام د اوبو وچښه ، وروريي وويل نه خوركې داغلبيل واخله اود هغه دريابه څخه ماته خوړي اوبه راوړه . خور يي وويل ښه دې وروره خو تر څو چي زه راځم ته به دغه ډ هلكي كرار كرار ډنگوې څو هم ته مصروف اوسي اوزه به هم دغه ډهلكي په وهلو سره نه ويريږم ځم اوبه درته راوړم.

پهلوان چي ډير زرنگ وو ويويل ښه دی خوري . خوريي غلبيل واخيستئ اوپه يوه منډه يي ځان ورساوه درياب ته ، ورور يي ډهلك وهي ، ښځه چي غلبيل په اوبو ننه باسي د اوبوډك سي خوكله چي داوبو څخه را وباسي اودوه قدمه لاړه سي اوبه بيرته څني توي سي بيا ولاړه سي دلته پهلوان حيران دی چي څه وكړي كه يي كتل چي يوه دانه موږك دوري رادوري كيږي پهلوان پخپل پټو سره موږك ونيوی داسي چي خپل پټو يي يودم په موږك باندي ورگذار كی اوموږك هم چي دانسانانو له خوا نه وو په عذاب سوي ډير نه ويريدی ځكه په اساني سره ونيول سو دستي يي يوه رښكې پيداكړه اوموږك يي دډهلكي سره وتړي اوخپله يي ځان دقلعه دديوال نه واچاوه اومنډي وهي موږك هلته كړپهاري جوړكړيدي . ښځه هم ستومانه سوه اوپه خالي لاس باندي بيرته دكورخواته راروانه سوه كله چي كورته را ورسيدل وې ليدل چي ميلمه يي نسته اوتښتيدلی دی پربام پورته سول وې كتل چي يوسړی په منډه ځغلي داهم پسي راتا سوه اوځان يي نژدې راورساوه . دلته څودخرما درختي وې پهلوان شاه ته وكتل كه گوري بلا ورپسې روانه ده ژر ودرختي ته وختی هر ه څومره چي خور يي ورته وويل راتا سه پهلوان نه راتا كيدی بلا خره بلا ددرختي په اره كولو شروع وكړه پهلوان ديوې درختي څخه بلي درختي ته اوښتې كله چي اّخري درختي ته ورسيدی پوه سو چي نور نو چاره نسته ډيرپريشانه ووپه دې وخت كي يوه زمری پخپل ښكار پسي منډي وهي اوتردې ځاي پوري راورسيدی . پهلوان چي ورته وكتل دهغه زمري چيچي ووچي پخوا دده سره اوسيدی ددرختي راتاسو اود زمري سره ودريدی بلا چي پوه سوه منډه يي واخيسته زمري اوپهلوان پسې وځغستل زمری چي ډيرچالاكه وو بلا يي را ونيول اوهغه يي په دواړو ټكر ټكر كړه . زمری پخپله لاره ولاړی اوپهلوان پخپله لاره ،اوس نوتاسي ووايا ست ددې قصه مطلب څه وو؟

جواب : اول بايد ټوله انسانان درحم اوعاطفه خاوندان وي دخپلو گاونډيانو سره په مينه اومحبت ژوند وكړي هرځای اوهرچيري بايد دخپل ځان د پاره دوستان پيدا كړي څو په مشكلا تو كي ورسره مرسته وكړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم : زمونږ د پاره دا لا زمه ده چي په بيګانګانو باندي باور ونکړواو ترڅو چي مو پيژندلي نه وي بايد د هيڅ کس کره ولاړ نسو او همدغه رنګه د بيګانګانو د راتګ څخه وخپل کورته ډډه وکړو او پربيګانګانو باندي اعتماد ونلرو خصوصاً هغه کسان چي زمونږ په دين نه وي (کافران وي ) .

ډيرداسي کسان پيداکيږي چي په ظاهره ديوه پاك اوصادقه مسلمان بڼه لري خو په حقيقت کي يومنافق اوبدکرداره شخص وي په لباس اوظاهري شکل هيڅکله مه خطا وزي . دحقيقت د پيداکيدلو د پاره لا زمه ده مور ، پلار ، مشرورور، اکا ماما اونژدې ټول دوستان خپلوکشرانو ته دسمي لاري ښوول په خپله ذمه قبول کړي اوخپل مسؤ ليت وګڼي چي دجامعي د پيشرفت اوترقۍ يوازنۍ لاره د خپل اولاد سالمه تربيه کول دي .

په کشرانوهم دالازمه ده چي دخپلومشرانو اطاعت وکړي اوداسي کار ونه کړي چي په ورځ کي داّخرت درسول الله (ص) دشفاعت حق دلاسه ورکړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صبر

يولوی سرمايه داره سړی وو ډير درحم اوعاطفه خاوند وو پرغريبانواو بيوزلا نوباندي يي هميشه خيراتونه او زکاتونه ويشل د هغود احوال څخه يي خپل ځان خبراوه داسي ورځ يا شپه به نه وه چي د ده پرکور به ميلمانه ناست نه وه ميوې اوغله جات پروردگار عالم ورته پريمانه د باغو اومځکو څخه ورته ارزانه کړي وه همدا ډول د اولادونو هم ورته کمی نه وو ځوانان زامن لوڼي اونکاحي ښځې هم ورته حاضر باشه ولاړي وې څه چي به يي ويل هم هغسي به کيدل د شاوخوا کلي خلگ هم ځني راضي وه داسي سړی نه وو چي د ده بد خواه وای ټولو خلگو ورته په درنه سترگه کتل او هر چاد ده احترام کاوه پروردگار عالم هم وده ته دومره مهربانه اونرم زړه ورکړی وو چي د ژوند په هره لحظه کي به د خپلوخلگو اوعوامو دپوښتني دپاره چمتو وو دمريضانو به يي احوال په ډيره مينه اومحبت سره اخيستی د دارو او درملو د پاره به يي ورسره مرسته کول داخترد خوشحالي دپاره به يي وټولو غريبانو ته جامي جوړولي پخپل ماحول اوچارپيبال کي به يي دغلو داړه مارانو شيطانانو اوفاجرانو لاسونه لنډول او نه به يي پريښوول بلکه د خپل حسن اخلاق په درلودلو سره يي داسي کسان په سمه لاره راوستلي وه ځکه د ضرورت مواد به يي ورته په وړيا توگه ورکول اوکه به کم مشکلات ورته پيداکيدل نوحتي الوسع به يي دحل کولو لاري ورته پيدا کولې خير د دنيا ژوند دی عمر دی تيريږي يو الله پاك پخپل حال دی او پاته کيږي يوه چپه گرگو ددې ديندراه سړي و دروازې ته ودريدل او يوه توره بلا ددې سړي په کور ننوتل باغونه يي وچ سول مځکي يي ويجاړه اودکښت دحالت څخه ووتلي زامن يي هم ځني ولاړل ښځې يي هم ورڅخه جلا جلا سوي دی هم په يوه بې درمانه رنځ باندي اخته سو داسي حالت ته ورسيدی چي نور نودکلي خلگ ددې سړی دمرض څخه په تنگ راغلل اودا نيك سيرته سړی يي دخپل کلي څخه دباندي وايستی يوه ښځه ورته پاته سول نورنو ټول کوراوکهول ځني جدا سول ددې نيك سيرت سړي رنځ اوتکليف ورځ په ورځ ډيريدی مگر ده هيڅ آه هم نه کښې دايوې ښځې به دده د پاره ډوډۍ راوړل اودده خد مت به يي کاوه د شپې اوورځي به ورسره وه دخلگو کورونو ته به تلل جامې به يي مينځلې يا به يي ميچن څرخول اويا به يي د خلگو کورونه جاروب کول څو ددې مزدوری په نتيجه کي څه خواړه دخپل ځان اودې نيك سيرته سړي د پاره تيار کړي ددې ښځي ډيرښه ښايسته چوټيان ( وريښتان ) وه داسي يو ورځ راغله چي يوه گنهکاره سړي ددې ښځي څخه ددې د وريښتانو د پرې کولو غوښتنه وکړه هرڅومره چي دې ښځي انکار وکړ کومه فايده يي نه درلودل ښځه چي د مجبوری په حالت کي وه او بله چاره يي نه درلودل دمزد په عوض کي يي خپل وريښتان قيچي کړل څو وکولای سي خپله اعاشه برابره کړي په دې وخت کي يو شيطان په منډه راغی اودې نيك سيرته سړي ته يي په چپه ډول دابيان جوړ کړئ دانيك سيرته سړی چي ډير پرهيزگاره وو ډير خوابدی سوخو افسوس په داسي حالت کي وو چي هيڅ يي هم نسوای کولای پرشيطان يي لعنت ووايه اوځان يي وخپل خدای ته وسپاری کله چي يي ښځه راغله ټول احوال يي ورته ووايه اود شيطان مخ يي تورکړي يوې چشمې ته يي ځان ورساوه اوهلته يي خپل ځان ومينځی په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي حالت کي چي دپرې وللو توان يي هم نه درلودی . دقدرت کار دی په دې چشمه کي ددې نيك سيرته سړي شفا وسول او روغ رمټ سو اوترپوې لوي خطرناکي مرحلي وروسته بيا پروردگارعالم ورته د ژوند ټول سامانونه مهيا کړل.

سوالونه

.1اوس نو ووایاست دانيك سيرته سړی څوك و؟

.2ددې چشمه په گوته کول ورته چاوکړه ؟

.3ددې نيك سيرته سړي عادت څه وواوڅه گڼه يي وکړه ؟

جوابونه

.1دانيك سيرته سړی حضرت ايوب عليه السلام وو.

.2پروردگارعالم ورته دخپلي مهرباني له امله دده توبه قبوله کړه اوددې ازمايښت څخه يي کامیابه وایستۍ داځکه چي پروردگارعالم پخپلو بندگانو ازمايښت کوي هرهغه کس چي صبر او حوصله وکړه حتماً کاميابي دهغه په برخه ده.

.3ددې نيك سيرته سړي عادت صبر ووځکه خود صابرايوب پنوم یادیږي.

نوټ:داقصه زموږد پاره يوسرمشق دی څود بې صبری نه وساتل سو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوه لنډه کيسه

دغریبی کورمو درلودی په اوموخښتو آبادووځای ځای پکښې پخې خښتي هم کارسوي وي ، پخپل لاس مو جوړ کړی وو ، دګرمۍ په لنډو شپو کي وسپيني سپوږمۍ ته مو خښتي منبلې اود ورځي به مو دقلعه ددیوالونو د پاره ختې لا ندي باندي کولې او کله کله به موخراب دیوالونه دکاګل پر ځای په ریګو اواهاکو سره ګډ سیمګل کول، د اوبو د څکلو د پاره مو په کورونو کي ځاه ګان درلودل د خپل نیت د پراخئ له امله دهغه بل کلي خلګو زموږ د څاه ګانو د اوبو څخه ګټه کول ( ګټه یي تري اخیستل ) ځکه اوبه یي ډیري یخي ، خوږې او ډیري پاکي وې د ژمي په یخو شپو کي د تالندي اوبریښنا څخه نه ویریدلو ځکه کور مو مضبوط جوړ کړی وو ،ګلان او سبزیجات مو پکښي ډیر ډیرکرل حتي اکثره موږ د بازار څخه ترکاري او سبزیجات نه رانیول او په ډیره خوشحالۍ سره مو ژوند تیریدي ، نا ګاه سیلۍ اوبارانونه را پیدا سول په مسلسل ډول یي زموږ دغریبۍ کور لکه چي زموږ سره یي دښمني درلودل په ژلیو اوسیلابونو سره خراب کړ . مجبوره سوو د خپلي میني څخه موکډه وکړه هري خواته خواره سوو څوك په دې کلي او څوك په هغه کلي کي ډیره سول ، څوك په کلي کي دننه دخلګو سره همسایه سول او چادکلي د باندي خیمې ووهلې داچي زموږ څخه هرڅه دلاسه وتلي وه نو مجبوره سوو په مزدورۍ مو لاس پوري کړ خوخپل ټاټوبی مو نه هیراوه په ډیره میړانه مو کار اوزحمت کښۍ دچا احتیاج نه وو خو ژوند یاري نه کول ، کرار کرار مو دکور د لوازمو په خرڅولو لاس پوري کړ په ډیره ارزانه ارزانه توګه مو خپل سامان خرڅاوه ، موږ خپله ګذاره کول مګر د پردي کلي د مشرانو په سترګو کي خار وو ، ځینو به زموږ د خرابه کورونو د رانیولو وړاندیزونه کول چابه خرڅ کړل ولي چابه ویل دا زموږ د پلار او نیکه د لاس نښه ده نې خرڅوم .

دکلي خلګ چي زموږ د زحمت اوکارو دګټي له امله بډایان سوي وه زموږ د څاه ګانو څخه یي کاریزونه وکیندل اوخپلو مځکو ته یي اوبه راډیري کړي ، عبدلغیاث کاکاچي زموږ په کلي کي یو ډیر ښه سړی وو اوښه نوم یي درلودی څوکاله وروسته یي و غوښتل چي بیرته خپل کلي ته ولاړ سي او خپل کوراّباد کړي . ده داګمان کاوه چي د نورو ګاونډیانو څخه به پیسي په پور واخلي د قرض حسنه په توګه کله چي پرور دګارعالم ورته روز ګار ښه کړي بیا به دخلګو قرضونه بیرته ادا کړي . په همدې زړه یي دکلي یوه مشرته چي ډیر کلونه یي ورته خدمت کړی وو د پور (قرض) یوه غوښتنه وکړه چي اوس یي راته راکړه انشاْ الله په ډیر نژدې وخت کي به یي بیرته درادا ْ کړم . افسوس ددې څخه خبر نه ووچي دکلي خان دده دڅارویو دپاره هم سترګي پټي کړي وې ځکه عبدلغیاث کاکا دیوه غویي اودوو پسونو څخه بل څه نه درلودل.

ښه نو ګرانو ویونکو ددې لنډې کیسي جواب زه وتاسي ته پریږدم ځکه غواړم ستاسي د ذهن ازمایښت وکړم څو په علمي ډول درته ثابته سي چي ؟ ؟ ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حق او با طل

دحضرت صهیب (رض) څخه روایت دی چي رسول الله (ص) وویل ستاسي نه دمخکي قومونویو بادشاه وو چي د هغه سره یو جادوګر ووکله چي دا جادوګرسپین ږیري سو نو پادشاه ته یي وویل . زه نور سپین ږیري سوم ماته یوهلك راوا ستوه چي زه ورته خپل دسحر علم وښیم . پادشاه یو زلمی هلك ور واستاوه ، د هغه په لاره کي یو راهب وو دا زلمي د هغه سره کښینستی د هغه خبري یي واوریدې خوښي یي سوې ، پس له دې هرکله چي به ساحرته تلی نو اول به ددې راهب سره کښینستی کله چي به ساحر ته ورغلي نو ساحر به وواهه چي ولي دي ناوخته کړ هغه راهب ته دا احوال وواېه ، راهب ورته وویل کله چي دي ساحر وهي نو ورته ووایه چي په کورکي وم اوکله چي دي په کور کي وهي نو ورته ووایه چي د ساحر سره وم . په همدې ډول وخت دی تیریږي یوه ورځ کلي ته یوځنګلي ځناور راغی اود خلقو لاره یي بنده کړه ، ددې هلك لاره هم بنده سوه . دې هلك په زړه کي وویل نن به معلومه سي چي راهب په حق دی او که ساحر ، یوکاڼی یي راواخیستی ویویل .

یاالله که د راهب کار ستاخوښ وي نودا ځناورپه دې کاڼي مړکه . ځناور یي په وویشتی هغه مړسو. خلقوته لاره آزاده سول . بیا راهب ته راغي اوحال یي ورته ووایه .هغه ورته وویل : بچیه - ته خو زمانه غټ مقام ته ورسیدې ( اوداسي ځای ته چي څوك ورسیږي ازمایښت باندي راځي ) ډیر ژر به پتا باندي یوه سخته راسي . که سخته در باندي راغله نو زماحال چاته مه وایه . دا هلك دې اندازې ته ورسیدی چي ړوند او پیس مرض به دده په دوعا سره ښه کیدئ اود ټولو مرضونو علاج به یي کاوه . د پادشاه یو وزیر په دې خبر سو چي هغه ړوند سوي وو .ده ته یي ډیري تحفې راوړې او ورته یي وویل ، که زه دي جوړکړم نو داټول شیان درته درکوم (ستا دي ) هلك ورته وویل : زه څوك نسم جوړولای ، جوړونکي الله دی ، که تاپه الله باندي ایمان راوړی زه به درته دوعاوکړم ، الله به دي جوړ کړي . هغه ایمان راوړی او الله جوړ کی ، بیا پادشاه ته راغلی او ورسره کښینستی لکه چي به کښینستی . پادشاه ورته وویل د سترګو دید درته چا درکړ ؟ وزیر ورته وویل خپل رب . پادشاه ورته و ویل آیا زمانه بغیر ستا بل رب هم سته ؟ وزیر وویل

زما اوستا دواړو رب الله دی نو پادشاه بندي کړ اوترهغې پوري یي تکلیفونه ورکول څو یي دهلك حال ووایه. هلك یي راوستی . پادشاه ورته وویل ، اې بچیه تا په جادوکي دومره ترقي وکړه چي ړانده جوړوې او پیس مرض ورك کوې ( مریض جوړوې ) اوداسي کارونه کوې . هلك ورته وویل ، زه خوهیڅ څوك نه جوړوم جوړونکي الله دی . پادشاه دی هم قید کړ اوترهغې یي آزار ورکاوه څود راهب حال یي ووایه . پادشاه راهب راوغوښتی او ورته یي وویل ، خپل دین ته وګرځه هغه انکار وکړ . نو یوه اره یي را وغوښته اوراهب ته یي پر سر کښیښوول اره کاوه یي تردې چي دوه ټوټې سو . بیا یي هغه هلك راوغوښتی ورته وې ویل ، خپل دین ته وګرځه . هغه هم انکار وکړ. نوخپلو کسانو ته یي حواله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ چي داهلك پلاني غره ته یوسي په غره باندي يي وخيژوی چي دغره وڅوكي ته ورسيږی نو ورڅخه پوښتنه وكړئ كه خپل دين ته واوښتی نو آزادیي كړي كه انكاركوي نو د غره څخه يي لا ندي راشوه كړئ . هغوی بوتلی اوغره ته يي وخيژوي ، هلك الله پاك ته سوال وكړ . يا الله ددوی نه مي خلاص كه په هره ذريعه چي ستاخوښه وي . په غره باندي زلزله راغله اوهغه د پادشاه سړي ټول لا ندي راشوه سول . داهلك پادشاه ته راغي اوهغه ورته وويل . ستا ملگري څه سول . هلك ورته وويل . دهغوی نه خپل رب خلاص كړم . بیايي نورو سړو ته حواله كړ چي دی په كښتی كي سپوركړئ اوچي كښتی دسيند منځ ته ورسيږي پوښتنه ځني وكړئ ، كه خپل دين نه پريږدي نو سيند ته يي وغورځوی . هغوی بوتلي . دسيند منځ كي هلك الله ته سوال وكړ . ياالله ددوی نه مي خلاص كړي په هرهغه څه چي ستا خوښه وي ، نو په هغوی كښتي واوړيدل اوټول پكښي غرق سول خوهلك الله پاك ژوندی وساتی . هلك بيا پادشاه ته راغلی . هغه ورته وويل ستاملگري څه سول ؟ هلك ورته وويل دهغو نه الله پاك خلاص كړم . بیايي پادشاه ته وويل ته مانسې وژلای بيله هغه طريقه څخه چي زه يي درته وښيم . پادشاه ورته وويل هغه څنگه ده ؟ هلك ورته وويل ، ټول خلگ په يوه آزاد ميدان كي سره راجمع كړه اوماد خرما په تنه پوري وتړه بيا زماد تيركش نه يوغشي را واخله په ليندي كي يي كښيږده او ووايه (( بسم الله رب الغلام )) ما ورباندي ووله چي داسي وكړي نوما قتل كولي سي .

پادشاه خلگ راجمع كړل اوهلك يي په سليب باندي وخيژاوه دهغه تيركش نه يي يوغشي راواخيستی او ويي ويل (( بسم الله رب الغلام )) هلك يي وويشتی هغه دغوږ سره نژدې ولگيدی اووفات سو، ټولوخلگوويل (( آ منا برب الغلام )) .

پادشاه ته خبر ورسيدی هغه كار وسوكوم نه چي ته ويريدې هلك دي قتل كاوه خلقو ټولو په الله ايمان راوړ . پادشاه حكم وكړ ،چي دسړكونو په چوكونو كي خندقونه وكينی اور پكښي بل كړی څوك چي دخپل دين څخه نه اوړي هغه پكښي وغورځوي ، يايي وويل چي هغه دي اورته ور ودانگي . همداسي وسول اوپه همدې ترتيب ټوله مسلمانان يي د اورپه لمبو كي وسوځل . په قرآن عظيم الشان كي دا واقعه د اصحاب اُخدود پنوم باندي مشهوره ده.

)رياض الصالحين 30 حديث 40 مخ اول جلد دريم باب دصبربيان (

داسي قصې او واقعات چي تاريخ گواهي وركوي ډيري تيري سويدي لكه د حضرت ابراهيم عليه السلام قصه . اوحتي ترديې چي د پيغمبرانو وژنه اوپه شهادت رسول هم دكفراو الحادله خوا دريغ سوي نه دي دسيدالشهداْ حضرت حمزه (رض) شهادت په كومه طريقه چي كفارو وكړ په هيڅ زمان كي چانه وو كړی هغه په دې شكل . پزه،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړونه ، سترګي ، او حتي زړه اواينه سره د سږو يي هم ځني ويستي وه . ځوحضرت محمد (ص) په بوی باندي خپل اکا (تره) و پيژانده

))انالله وانا اليه راجعون((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دعلم برتري

تاسي به په دې بيان کي يوه داسي خوږه کيسه ووايي چي ترډېره وخته پوري به ستاسي دذهن څخه ونه وزي اوکه هرڅوك ددې کيسې په اصلي مطلب پوه سو نودابه يو ډېرلوی برکت ورپه برخه سوی وي . په يو وخت او يو زمان کي يو ډېر پوه او عالم سړی تيرسوی دی دکلام په فصاحت او بلاغت کي په اولو ورځو کي ډېر خوندور نه وو ځکه د ژبي د نيمګړتياله امله يي حرفونه سم نسواى ادا ْ کولای خو وروسته دالله په فضل اوکرم سره دا نيمګړتياليري سول په جهان کي يي ساری نه درلودی ، د تکاليفواو ربړونو سره هميشه لاس اوګريوان وو د صبر او زغم څخه يي کاراخيستئ د خلقو سره به يي هميشه کمك کاوه . مزاج يي د حقيقت په پلوی تند وو. ډېر رحم دل اومهربانه شخص وو د هرقوم او قبيلې د سوالو سره يي د هغود خواهشاتو په مقابل قناعت بخشه جوابونه ويل او چي په وس او قدرت کي به يي وه د خلقود آرامی او هوسايي د پاره يي د ژوندا نه ټول ضروريات برا برول . خير د تعريف او توصيف په باره کي چي هرڅومره د هغه ستاينه وکړو بياهم لږ ده . مطلب دلته دادی چي يوه ورځ داسي په زړه کي ور وګرځېدل ګ ( زماعلم ډېردی شايد زما نه په علم کي بل څوك برتري ونلري ) . د پروردګارعالم له خوا ورته وحي وسوه ، ولاړسه ويوځای ته اوهلته به ديوه بل شخص سره ملاقي سي . هغه وخت به داشخص ويني چي د ځانه سره دي يوه دانه وريت کړی ماهی په ډوډۍ کي پيچلئ اخيستئ وي . په هغه وخت کي چي دغه ماهی ستا د دسترخوانه څخه ورك سي ( همدغه وريت کړي ماهي د ژوندي ماهي په شکل بيرته اوبوته داخل سي ) ته به هلته ددې شخص سره ملاقات وکړې . په همدې ترتيب سفر آغازسو هله هله يوځای د اوبو چشمی ته ورسيدل په هغه ځای کي يي اوبه وچښلې اومخ په سفريي حرکت ته دوام ورکړ. يوځای وړي سول اوکښې نستل غوښتل يي چي ډوډۍ وخوري کله چي يي د سترخوان خلاص کړ وې ليدل چي ماهی نسته ، ور په ياد سول چي ماهي په هغه تيره چشمه کي د اوبو غيب سويدی . بيرته پشا را وګرځيدل اوپه دې واپسی کي يي خپل دمطلب شخص پيدا کړ . دې شخص ورته خپل عذرمخ کي نه مخ کي وړاندي کړ چي ته زما سره ملګرتوب نسې کولای . خومطلبي ورته اسرار وکړ .ځکه نو ددوی ترمنځ په دې شرط سفرآغازسو چي ورڅخه سوال به نه کوي . ده هم ومنل پرلاره سره راروان دي يوځای ته راورسيدل چي هلته څوداني کښتۍ د خلقود تيرايستلو په غرض د اوبود يوې غاړي څخه وهغه بلي غاړي ته ولاړي دي په دې کښتيو کي يوه دانه څه زړه غوندي ده نوري کښتۍ نوي نو ي دي ،دوئ په دې زړه کښتۍ کي سپاره سول کله چي کښتۍ د اوبو منځ ته ورسيدل نو دې شخص هغه تبرچه چي د ځانه سره درلودئ دکښتي ديوې برخي په ماتولو کي په کار واچوه . مطلبي شخص ورڅخه سوال وکړ داڅه کوي ؟

جواب ورته ورکړه سو .مادرته ويلي وه چي سوال به نه کوې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوبوهغه بلي غاړي ته وا وښتل بيايي پخپل سفرآغاز وکړ هله هله هله ويوه ښارته ورسيدل . په يوه کوڅه کي تيريږي که ګوري څوداني ماشومان په بازئ بوخت دي يوه دانه هلك چي ښه پاکي جامي په تن لري خپله هم پاك او ستره معلوميږي ددې هلکانو په منځ کي ګډ دئ اوخپل ساعت تيري کوي نوموړی شخص ورنږدې سواوهغه يي مرکړ . داحالت ددې مطلبي شخص بل کل خوښ نسو اوځني سوال يي وکړ ، دادي ولي مرکړ حال داچي دايو بيګناه هلك وو ؟

جواب ورته ورکړه سو . مادرته ويلي وه چي سوال به نه کوي.

خير بيا سره روان سول و ښارته داخل سول اوهلته يي ديوه کار اوغريبي پوښتنه کول څو وکولای سي د خپل خوراك اومعاشئ د پاره څه برابر کړي دلته هيڅ کس هم حاضر نسو چي ودوی ته کار ورکړي ځکه دا خلګ دلته په دې ښار کي نا بلده وه خير شپه تيره سول سهار سو بيا دوري رادوري ګرځي په يوه کوڅه کي نا څاپه يو ديوال وليدئ چي د پريوتو په حالت کي وو نوموړی سړی ورته نژدې سو اوخپله اوږه يي ورکړه ديوال يي سم ودراوه اودچپه کيدو څخه يي وساتئ . دلته مطلبي سړي بيا ځني پوښتنه وکړه . ولي دي ديوال سم اوجوړکړ پري اينښئ به دي وای چي نړيدلي وای موږ به جوړکړی وواوبيا بمو ځني پيسې اخيستي وای څود خپل خوراك زمينه مو مساعده کړي وای .

جواب ورته ورکړه سو زما اوستا ترمنځ جدايي ده . دريې ځله وسوه چي تاسي زما څخه سوالونه وکړه حال داچي زما او ستا ترمنځ وعده وه چي زماڅخه به پوښتنه نه کوي . ددې واقعاتو حال درته بيان کوم.

اول دکښتۍ حالت :ددرياب هغه غاړي خوا پادشاه اعلان کړی وو هره کښتۍ چي نوي اوسلامته وي هغه ونيسۍ اوددولت کارونه په اجراْ کړي . ماځکه دهغه کښتۍ ورته ماته کړه چي داسړی ډير غريب ووکه چيري د پادشاه عسکرو دده کښتۍ اخيستي وای نود دوي د خوراك او معاشي لاره بنديدل . ماته کښتۍ عسکرو نه نيول.

دوهم دهلك وژل : ددې هلك موراو پلار ډير پرهيزګاره خلګ وه ولي داهلك ډير پرګران وو . ويره ددې وه چي ددې هلك په لوئيدو سره داخلګ ګمراهان سي ځکه ددې هلك آينده خراپه وه نو په همدې خاطرچي دامسلمانان دجنت څخه محروم نسي داکارمي وکړ.

دريم دديوال جوړيدل : تردې ديوال لا ندي يوه نيك سړي دخپلو زامنود پاره خزانه پټه کړې وه . د ده زامن واړه وه که چيري دا ديوال نړيدلی وای نوخامخوا دا خزانه ضايع کيده اودې هلکانوته نه رسيده په صحيح توګه ځکه نو ماداکاروکړ .

نورنو زما اوستا ترمنځ جدايي ده .

سوالونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.1ددې کيسې څخه تاسي څه پند واخيستئ ؟

.2مطلبي شخص څوك وو؟

.3کارکونکي ( فاعل ) څه نوميدئ ؟

.4دمطلبي شخص قوم اوکتاب څه نوميږي ؟

جوابونه

.1په دې بايد پوه سو چي په جهان کي دعلم دروازه د ټولو انسانانو پرمخ خلاصه ده ولي دا علم د خلقوترمنځ دذهن په رشد اوتقاضاْ پوري اړه لري په دې معني چي د يوه انسان ذهني رشد په يوه خاصه لاره کي امکان لري ولي د ټولوعلومو تکميلول د يوه عادي انسان د پاره مشکل کار دئ ځکه دانسانانو ذهنونه په خاصو شرا ئطو کي د خاصو پروګرامونو د پاره د قبول ورمسائيل جذب کولای سي . په همدې منظور بايد هيڅ شخص ددې ادعاْ ونکړي چي ګواکي د علم او پوهي له لحاظه ساری نلري . دادرسته خبره ده چي پيغامبران د علم او پوهي له لحاظه دمځکي دمخ رهبران دي ولي هغه په اندازه دي ځکه خو پروردګار عالم ددې خبري دتصديق د پاره دحضرت موسي عليه السلام اوحضرت خضر عليه السلام قصه په قرآن عظيم الشان کي وحضرت محمد ( ص) ته بيان کړه څو د مځکي د مخ علماْ پخپل علم سره ونه نازيږي د تکبر او غرورڅخه بايد ځان وژغوري ګګ داسي علماْ پيداکيږي چي انسانان هغه نه پيژني مګرپه هغه صورت کي چي ورسره په تماس کي سي.

.2مطلبي شخص حضرت موسي عليه السلام وو .

.3هغه شخص چي حضرت موسي عليه السلام ورسره په تماس کي سوهغه حضرت خضر عليه السلام وو .ددې درو واقعو فاعل همدغه حضرت خضرعليه السلام وو.

دمطلبي شخص قوم يهود ( بني اسرا ئيل ) دي اوهغه کتاب چي پروردګارعالم وموسي عليه السلام ته ورکړي وو هغه د تورات په نوم باندي ياديږي .هغه ځای چي حضرت موسي عليه السلام اوحضرت خضر عليه السلام سره يوځای سول بين النحرين په نوم سره مشهوردي . زماداسي ګمان دي چي داځای په سوريه کي واقع دي والله اعلم .

نوټ : دابايد دياده څخه ونه باسو چي دعالِم برتري په بې علم باندي زياته ده او په قرآن عظيم الشان کي هم داذکرسويدي حضرت رسول اکرم (ص) هم په دې باره کي زيات ارشادات لري او خپل امتيان يې په دې باندي ماْ مورکړيدي چي بايد علم زده کړي . دعلم په حاصلولوکي بايد منزلونه منزلونه حتي که په پښو هم وي بايد چي طي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي ځود بي علمی مخه ونیول سي . پروردګارعالم فرمايي . زما په باره کي دي هیڅ څوك بحث نه کوي ترڅو چي علم يي نه وي حاصل کړي .

پرموږ ټولومسلمانانو باندي دا فرض ده چي د علم دروازه پخپل مخ خلاصه کړو. که چیري د نیوي علم نسوزده کولای باید دیني علم خود حقیقت له رویه زده کړو. خصوصاً په دې عصر او زمان کي چي خلګ دساینس اوتکنالوژئ په مخ ګرځندي ګامونه وړا ندي کوي ډیر به د افسوس خبره وي چي خپل ځانونه وجهان ته د بیسوادانو په شکل وښیو. په دې صورت کي به مودخپل خدای اوخپل پیغامبرعلیه السلام د ارشاداتو په ضد عمل کړي وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ټنبلا نو دارو

دعبدلغیاث کاکاپه کورکي د ډیري زمانې راهیسي د زوی د پیدا کیدوکومه آوازه نه وه خپره سوې . لوښي ورته پروردګار عالم ډیري ورکړي وي ، خوددې کورد زړه ارمان یوه ورځ الله تعالي پوره کړ په داسي حال کي چي عبدلغیاث کاکا پخپل پټي اوکروندې کي په کارلګیاوو ناڅاپه په منډه منډه یوکلي وال ورته ځان را ورساوه او پرې ږغ یي وکړ . کاکا زیري مي دربانديي ،اول به ماته شیریني راکوې بیا به زه درته وایم ، کاکاومنل چي شیریني به ورته ورکوي (ځکه دادستوردئ چي دنیکي خبري په اوریدوسره اوریدونکي حتماً خبر رسان ته څه ناڅه مني .) بیا یي د زوی د پیداکیدو خبر ورته و وایه . عبدلغیاث کاکادډیري خوشحالی څخه خپل کار و بار پرې ښووي اومخ دکور په خوا رهي سو . کورته په رسیدو سره د هري خوا ورته مبارکباد ویل کیدئ .خو کاکا به ویل (( خدای دې قدم دنیکو کړي)) او په تکرارتکرارسره یي د خداګ شکرکښي.

دهلك په پیداکیدو سره دکاکا کورنی په خوشحالي کي ډوب پراته وه داهلك دومره نازولی وو چي همیشه به د پلار، مور، اوخوندو په اوږو باندي ګرځیدی . خاص په الله او بسم الله سره د هغه پالنه کیدل . کرار کرارهلك لوئیدئ په عوض ددې چي درس ووایي یا کم بل کمال زده کړي تمامه ورځ به په کوڅو او بازاروکي سرګردانه ګرځیدئ .که څه هم پلار په مکتب کي واچوئ خود ډیري مهرباني اودلسوزی له امله چي په کورکي ورسره کیدل هلك دمکتب د نه ویلوتصمیم دخپل ځانه سره نیولي وو . کاکاهم د خپل ځان سره وکښت اوکروندې ته نه بیولي ځکه پلارنه غوښتل چي دایوه دانه زوی یي د لمرپه وړانګو کي په عذاب سي .لنډه داچي ددې هلك هره خبره منل کیدل اود ژوند ټول مشکلات د موراو پلارله خواڅه ورته حل کیدل.

دنابودي دنیاژوند دی ،عمردی تیریږي ،عبدلغیاث کاکا ناجوړه سواو څه عمر بعد په حق ورسیدی . اوس نوداهلك لوی سوی وو خو د ډیرناز او ټنبلۍ له امله د هیڅ کاراو روزګارنه وو. نازاو بې ځایه محبت ددې هلك په ژوندکي ناوړه تاثیر وکړ. د مشرانو بې توجهي هلك ودیته اړ باسی چي دخپل پلارګټلي په کرار کراروښتي کومه مځکه او پټي چي ورته په میراث پاته وو د وخت او زمان په تیریدو سره هغه خرڅ کړي . په کورکي هم هغه وخت دمور، خویندواو نورو دوستانو د توجه وړ وګرځیدی چي ورته د ژوند د معاشي د پاره څه نسوه پاته . نورنو نازولي هلك د خپل ټول جایداد څخه محروم سو اولاس ترزني په کورکي کښینستې . همیشه به یي په داسي وخت کي ډوډۍ خوړل چي د خپلو خویندو اویاهم مورله خوا به ورته دسترخوان غوړیدی او د لاس پرې منځلو د پاره به افتابه او لګن هم حاضریدی. اوس نو کور او کهول داسي وپتیله چي په څه ناڅه به ددې هلك و ژوند  ته تغیر ورکوي.

اوله ورځ یي وهلك ته دسترخوان هموارکړ خود لاس پریمنځلو د پاره یي اوبه رانه وړې . هلك چي هرڅومره چیغي ووهلې کومه فایده یي ورته ونه رسول مجبوره سو پخپله ولاړ سو اولاسونه یي پرې منځل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوهمه ورځ بيا دسترخوان ورته هموار نسو بلکه هرڅه ورته کښيښو ول سول ، هلك چي بيا هرڅه نارې ووهلې څوك حاضر نه سول مجبوره سوپخپله يي خپل دسترخوان هموارکړ اوبيا يي ټول کړاوخپل لاسونه يي پرې منځل.

په دريمه ورځ يي بيا ډوډي تياره کړه خوهيڅ کس حاضرنسوچي ورته ډوډۍ راوړي هلك چي ډېر وږي سوی وو بيايي هم د پخوا پشان غلبلي جوړي کړي چي وږي يم هيڅکس ورته ډوډۍ رانه وړه بيا پخپله ولاړ سواو د آشپزخانې څخه يي ډوډۍ خپل ځانته راوړل.

په څلورمه ورځ په کورکي هيڅ ډوډۍ پخه نسوه هلك د لوږي د لاسه ډېر په تنگ راغی هاخوا دې خوايي وکتل هيڅ هم په نظر ورنغلل مجبوره سو د باندي ووتی اوديوه دوست کره ورغي . هلته ددې هلك د خاله زوی ناست وو چي تازه دکاره څخه ستړی راغلی ووکوم وخت چي سره مخامخ سول نودې د خاله زوی ورڅخه پوښتنه وکړه چي ولي کارنه کوې ؟ هلك ورته وويل کومه دی کار ، ټول خلگ ووزگاردي . د خاله زوی ورته وويل راځه .هلك يي بوتلي اوديوه بُتېي وا لا سره يي شاگرد کړ . هلك چي ډېر نازولي وود بوټو ماتول ورته ډېر گران پريوتل کله چي ماښام کورته راغي ډېر ستړی ستومانه وو. موريي نن ورته شکنه پخه کړي وه هلك په ډيره مزه داري سره وخوړل . حال داچي همدغه شکنه پخوا دې هلك بل کل نه خوړل اوهغه خوراك چي به يخ وو يابه ددې هلك په مرضا باندي نه وو نو دسترخوان به يي په لغته وواهه او په بد ويلو به يي شروع وکړه . ◌

1.ښه نوگرانو ويونکو ددې لنډي کيسي اصلي مطلب څه دی ؟

2.داولاد روزنه بايد په کومه ډول سره وسي ؟

3.آياد علم په زده کولو سره راحت ډيرېږي اوکه په بې علمی ؟

4.د حلال رزق په گټلو کي زموږ دين ( اسلام ) څُه وايي ؟

جوابونه

1.موږ بايد داولاد په روزنه کي ډېر محتاط اوسو دهغه د پالنه څخه بايد يوه لحظه هم غافله ونه اوسو .موږ وينو په کوڅو اوبازاروکي هلکان بيله کومي پروا اودستورڅخه دوري رادوري گرځي ياخوپه ويدو گيمونو کي يا په سينماگانوکي ياهم په کلپونو کي د خپل وخت د تيرولو د پاره په خوراشوق اوذوق سره پيسې په اين وآن توگه د خپل موراو پلار څخه اخلي اوهلته د فضول او بيهوده کارونو په اجراٌ کولو کي لگياوي يا خود مکتب څخه تښتي اوياهم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوستانو کره د میلمستون پنوم دکوره څخه رخصت اخلي چي په دې صورتونو کي د موراو پلار ګډه وظیفه ده څود خپل اولاد پالنه او روزنه په پام کي ولري.

.2داولاد روزنه باید په احسن صورت سره په داسي حالت کي وسي چي د زور وهلو ټکولواو بدسلوك په مبنا باندي اتکاْ و نلري خودا هم باید په یاد ولرو چي د بیځایه ناز او نوازاو یا هم بې حده مهربانۍ څه هم باید ځانونه وساتل سي . د ماشومانو د خواهشاتو په مطابق هغه وخت کارکول ضروردي چي دهغوپه سالمه روزنه کي کم تاوان وا نه ړوي . دنرمو خبرو اوپراخي حوصلې څه باید کار واخیستل سي.

.3داحقه خبره ده روزي ورکونکي الله پاك دی خو په دنیاکي دکارونو ویش د عقل اومنطق په اساساتو باندي ولاړ دی . په دې نړۍ کي چي موږ ژوند کوو وینو چي اکثره غریب کاره خلګ ددنیوي علم څخه برخورداره نه دي ، ددفتر اداري اوچوکي ادعاْ ځکه نسي کولاګ چي علم نلري اکثره ډېر خراب حالت د ژوند تیروي . ولي په مقابل کي هغه کسان چي دعلم اوسواد خاوندان دي د دفترونو اوحکومتي کارونو په اجراْ کولولګیادي اوددې لاري څخه په ډېره آسانه توګه خپل د ژوند معاشي برابروي .

.4دحلال رزق په ګټلو کي رب العزت ډېر برکت اچوي اوخپل ټول بندګان یي په دې امرکړیدي چي دحلال رزق دګټلود پاره کار وکړي لکه د الرحمن په مبارکه سوره کي 29 آیت ترجمه ده (( ټوله هغه چي په آسمان اومځکه کي دي په کارونو بوخت دي.

.5اوهمدغه رنګه رسول اکرم ( ص ) فرمایي (( هغه څوك چي ایمان په خداي (ج) لري اوحلال رزق د پاره هاند کوي هغه پرالله (ج) باندي ګران دی .

.6اوپه موږ مسلمانانو کي داسي یو متل دي چي وایي ( دبیکاره خداګ بیزاره ).

په حقیقت کي دبیکاره اوبې روز ګاره سړي څخه دهیڅ کس ښه نه راځي اوټوله خلګ ورته بد وایي اوځان ځني لیري کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ازما ېښت

د حضرت ابوهريره ( رض ) څخه روايت دی فرمايي چي مادحضرت ( ص ) نه اوريدلي دي . داسې وفرمايل : په بني اسرائيلو کي درې کسان وه ، يويي برګی ( پيس ) يو يي ګنجی ( پك ) اوبل يي ړوند وو . الله تعالی په هغوی د ازمايښت اراده وکړه . يوه فرشته يي دسړي په شکل ورته را واستول.

فرشته وبرګي ته ورغلل او ورته وې ويل . ستا څه ډيرخوښ دي ؟ هغه ورته وويل . صفا رنګ ، ښايسته پوستکی اوچي دامرض راڅخه ليري سي ، خلق راڅخه نفرت نکوي . فرشته پرې لاس راوکښی جوړ سو . ښايسته بدن (پوستکي ) اوښايسته رنګ الله پاك ورکړ . بيايي څني پوښتنه وکړه . کوم مال دي ډير خوښ دی ؟ هغه ورته وويل اوښان ياغواګاني ( راوي ته شك دی ) نو بلاربه اوښه ورکړې سوه . او ورته وې ويل . الله تعالی دي درته پکښي برکت واچوي .

بيا ګنجي ( پك ) ته راغله . ورته يي وويل . ستا څه ډير خوښ دي هغه ورته وويل ، ښکلي ويښته چي دا پك توب راڅخه ورك سي څکه خلګ راڅخه کرکه کوي . فرشته لاس باندي راکش کي دالله په رضا جوړسو ، اوښکلي ويښتان ورته پروردګارعالم ورکړه . بيا فرشته ورته وويل . په مالونو کي دي کم شی خوښ دی ؟ هغه ورته وويل . غواګاني . پروردګارعالم ورته بلاربه غوا ورکړه . او ورته وي ويل الله تعالي دي پکښي برکت واچوي . بيادا فرشته وړوند ته ورغله ورته وي ويل . ستا څه شي ډير خوښ دي ؟

هغه ورته وويل . داچي الله تعالي راته نظر بيرته راکړي چي خلګ ووينم . فرشته لاس باندي راکش کړ د پروردګارعالم په امربنا سو ، بيا يي ورته وويل په مالو نوکي دي څه شي ډير خوښ دي ؟ هغه ورته وويل . ميږي . نو د پروردګارعالم په امريوه دانه بلاربه ميږه ورکړه سوه اوورته ويي ويل خدای دي پکښي برکت واچوي .

بلاربه ميږه لنګه سوه ، غوا او اوښه هم لنګي سوې اوبيا زياتيدې تردې چي د دريو واړوسره يوه کنده ډکه سوه . څه موده پس بيا هغه فرشته دانسان په شکل هغه پيس ته په هغه شکل اوهغه شان سره راغلل کله چي هغه برګي ( پيس ) وو. او ورته وي ويل.

زه فقير يم ، بې خرڅه سوي يم . بي دالله ( ج ) نه مي بله چاره نسته ، ستا څه دهغه الله پنوم چا چي ښايسته پوستکي اوښايسته رنګ اودا ډکه کنده مال درکړی دی ، يو اوښ غواړم چي زه سفر باندي وکړم . هغه ورته وويل . حقدار نورهم ډير دي . فرشته ورته وويل . داسي معلوميږي چي زه تا پيژنم ، آيا ته غريب برګي پيس نه يي چي خلقو درڅخه کرکه کوله ، بيا الله پاك جوړ کړي اودومره مال يي درکړ . هغه ورته وويل . دامال ماته پشت په پشت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالدارو مشرانو نه پاتي دی . فرشته ورته وويل . که درواغ وايي نو بيا دي خدای هغسي که . بيرته هم هغسي سو .

فرشته بيا پك ته راغله په هغه شكل اوهغه حال کښي لکه چي هغه مخکي وو . هغسي خبري يي ورته وکړي لکه چي وپيس ته يي کړي وې . هغه هم هغه شان جواب ورکړ ، نو ورته يي وويل . که دروغ وايي نو خدای دي هم هغسي كه لکه پخوا چي وې . هغه هم د پخوا پشان سو.

بيا ړوند ته راغله په هغه شكل او په هغه حال کښي ځنګه چي مخکښي وو ، ورته يي وويل . غريب مسافريم بې خرڅه سوی يم بې داالله نه مي بله اسره نسته ، ستا څه دهغه الله په نامه يو پسه غواړم چاچي تاته نظر بيرته درکړ اودومره مال يي درته درکړ ، چي زه د سفر انتظام باندي وکړم . هغه ورته وويل . زه ړوند الله جوړ کړم اوس د هغه الله پنامه چي دي څومره پسونه پکار وي اوڅومره چي ماته پريږدي ( تاته اختيار دی ) زه به درته هيڅ ږغ نه کوم ، څومره چي اخلي هغه واخله . فرشته ورته وويل . خپل مال دي سمبال کړه ، زما نه دی پکار ، دا خو په تاسو داالله تعالي يو آزمايښت وو ، نو ستا څخه الله تعالي راضي سو ،اودهغه دواړو ملګرونه دي ناراضه سو . بخاري اومسلم شريف دواړو دامبارك حديث روايت كړيدی . دريم باب دصبر بيان 65 حديث 60 مخ رياض الصالحين اول جلد .

سوالونه

.1ددې کيسې اصلي مطلب څه دی ؟

.2ولي الله پاك په خپلو بندګانو ازمايښت کوي ؟

.3ددنياسره د محبت پباره کي رسول الله (ص) څه ويلي دي ؟

جوابونه

.1ددې کيسې اصلي مطلب دادی چي موږ بايد داالله تعالی شکر پر ځای کړو په هر وخت اوهر زمان کي . داشكر په دې معني نه دی که چيري موږ الله تعالي په لاره کي څه ورکړو نوګواکي زموږ مال کميږي ، داسي نه ده پروردګارعالم په کښي برکت اچوي . اول خو زکوات پرمسلمانانو فرض دی ،بيا خيرات ، صدقه ، سرسايه ، قرض حسنه ورکول هم پرمسلمانانولا زمي اوضروري خبره ده . اصلي مسلمان جوړيدل دهمدې ځايه څخه جوړيږي .لکه پروردګارعالم دقرآن عظيم الشان په لمړي صفحه اولمړي جملو کي داسي فرمايي ( وممارزقنهم ينفقون ) ترجمه يي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي ده . دهغه رزق څخه چي ما په روزي ورکړيده هغه کسان چي متقيان دي دوی دالله پاك بندګانو ته روزي ورکوي.

.2ټوله په دې پهيږو کم وخت چي انسان ودنياته راسي په هيڅ هم نه پوهيږي اوهيڅ هم نلري حتي د خپل ځان ساتنه هم نسي کولای ولي پروردګارعالم دادرې شيان وانسان ته پخپل

رحم اومهربانۍ سره اعطاْ کوي ،

_1عقل 2. دارايي 3. محافظت .

يعني دموراو پلار محبت ددوستانو شفقت ددې ضمانت کوي چي انسان لوی اودکمال اندازې ته ورسيږي . دالطف اومهرباني د پروردګارعالم ده . هغه وخت چي دکمال اندازې ته ورسيدی بيانو ددنياپه جمع کولو کي لاس اوپښې وهي داسي لګياوي ته چي وايي په دنيا کي بيله دې جمع کولو څه بل کارنسته . ددې جمع کولود پاره د خپل عقل او تدبر څخه کاراخلي ځو وکولای سي په اسانی سره دخپلو شتو په ډيرولو کي اضافه توب راولي . بيانو ورڅخه هيروي چي دا په اصل کي څوك وو . څنګه منځ ته راغي . څه بايد وکړي . اوداسي نور نور . په همدې خاطر پروردګارعالم خپل بندګان ددې خاطرو چي خپل اصليت ورك نه کړي د خپل اصلي بادار تابع اوسي او په ژوند کي د خپل همنوع سره دکمك او تړون څه خپل ځان جدا نکړي کله نا کله په ازمايښت کي اچوي ځو د نورو بندګانو د پاره د سرمشق اوعبرت سبب وګرځي . په همدې سبب قرآن عظيم الشان موږ ته په کراتو کراتو دا ذکر کړيدی .

.2رسول الله ( ص ) فرمايي (( زه ددې څخه نه بيريږم چي زما امت به ددين څخه واوړي خو ددې نه بيريږم چي ددنيا سره په مينه اومحبت اخته نسي )) صدق رسوله . رشتيا هم ددنيا سره مينه دومره غټه خرابي راولي چي بل هيڅ فسق اوفساد يي نسي راوستلای . پرموږ مسلمانانو باندي دافرض ده چي دحلال رزق او روزي د پاره کار وکړو خودا موهم بايد په ياد وي چي پروردګار عالم اود هغه رسول مقبول موږ ته څه اوامر اوارشادات پرې ايښي دي . ځود ازمايښت او عذاب الاهي څخه په امان اوسو.

پروردګاردي موږ ته د عمل بالارکان توفيق راکړي آمين.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امانت

دعبدالله بن عمرابن الخطاب څخه روایت دی وایي ، ماد رسوالله (ص) څخه اوریدلي دي . چي ویل یي . د تیرو قومونو څخه درې کسان په سفرروان وو شپه پرې راغلل نو یو غارته ننوتل . دغره څخه یوه غټه ډبره را ولغړیدل د غارخوله یي بنده کړه . دوی پخپلو منځونوکي وویل . ددې مصیبت نه مو د خلاصۍ بله چاره نسته ، بیله دینه چي دالله تعالی څخه د خپلو نیکو اعمالو په وسیله سوال وکړو . په هغو کي یوتن وویل . یا الله زمامورااو پلار ډیرسپین ږیري سوي وه اوماد شپې د خپلو اولادو نو څخه مخکي اول هغوی ته شیدې ورکولې . یوه ورځ را باندي غره کي ددرختي په تلاش ناوخته سو . ماښام چي راغلم هغوی ویده سوي وه ، ماڅاروی ولوشل او چي هغوی ته مي د شیدو پیاله یو وړه دواړه بیده وه .

ویښول مي مناسب ونه ګڼل اوددوی څخه مي اول خپل اولادونو ته شیدې ورکول هم خوښ نه وو . ورته ولاړ وم چي خپله راویښ سي اولادونه مي په پښو کي لغړیدل او ژړیدل . ترڅو چي سهار سو. اوهغوی د خوبه څخه راکښې نستل . زه ورته انتظار وم بیا هغوی خپلي شیدې وچښلې . یاالله که ما دا کار خاص ستا درضا د پاره کړی وي نو زموږ څخه دا تکلیف لیري که . ډبره لږ شان وښوئیده خودومره لیري نسوه چي دوی د غاره څخه راووزی.

بیا بل وویل : یاالله زما د یو اکا لور وه چي ماته د ټولو خلقوڅخه ګرانه وه ، او په بل روایت کي دي چي دومره ډیره مینه مي ورسره وه څومره چي انتهایي مینه یوسړی دیوې ښځې سره کوي . مابه ورڅخه د وصل تقاضا کوله خو هغې به انکارکاوه .تردې چي هغه په سخته قحطی کي مجبوره سوه زما څخه یي څه پیسې و غوښتې ما په دې شرط شپږ دیناره ورکړل چي زما خواهش به پوره کوي . هغې ومنله ، بیاکله چي ماګقابوکړه اوګپه بل روایت کي دي بیاکله چي زه دهغي پښو منځ کي کښې نستم . راته یي وویل . دالله څخه و بیریږه اودامهر په ناجائزه مه ماتوه . ددې خبري په اوریدو ځني لیري سوم ، حال داچي هغه زما ډیره خوښه وه اوهغه دینارونه مي هم ورته پرې ښوول . یاالله که مادا کار خاص ستاد رضاد پاره کړی وي دا تکلیف زموږ څخه لیري کړه . ډبره نورهم وښوئیده خودومره نه چي هغوی د غاره ځني وتلي وای .

دریم وویل : یاالله ماد یوه کارد پاره څه مزدوران نیولي وه نورو ته مي خپله خپله مزدوري ورکړه خو یوسړی ولاړی دهغه مزدوري راسره پاته سوه ، ماد هغه په رقم تجارت شروع کئ اودهغه مال ډیر زیات سو . څه موده پس هغه سړی راغئ اودخپلي مزدورئ تقاضا یي وکړه . ماورته وویل . داڅه مال چي ته ویني ، میږي ، بزي ، غواګاني ، اوښان اوغلامان داټول ستا مال دی . هغه راته وویل . خندا را پوري مه کوه ، زما مزدوري خولږ وه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماورته وويل . خاندم نه واقعي دا ټول ستا مال دی . وړه يي . هغه ټول مال روان کړ . هيڅ شی يي هم پري نښود . ياالله که ماداکار خالص ستا د رضا د پاره کړی وي نوزموږ څخه داتکليف ليري که . ډېره ليري سوه اودغارخوله هم خلاصه سول . ټوله راو وتل او پخپل سفر روان سول . بخاري اومسلم شريف دواړو ددې حديث روايت کړيدی . رياض الصالحين اول جلد 12 حديث 19مخ اول باب

سوالونه

.1ددې مبارك حديث اصلي مقصد څه دی ؟

.2آياداکيسه موخوښه سوه ؟

جوابونه

ددې مبارك حديث اصلي مقصد دادی چي دخلقو مال بايد په زور، جبر اوناحقه سره ونه خوړل سي . داسي چي پرمسلمانانو فرض ده بايد زکات ، خيرات ، صدقه اوسرسايه ورکړي په هغه صورت کي چي دخپل حق اواندازې څخه زياتي پيسې ياما‌ل ولري نوپه دې ډول داهم فرض ده چي دخلقو مال ته بايد په درنه سترګه وکتل سي اوياهم دامانت په صورت کي بايد ورسره خيانت ونه سي . داسي يوه مشهوره جمله د ټولو مسلمانانو په ذهن کي سته چي رب العزت فرمايلي دي:

الله تعالي (ج) دخپل حق څخه تيريږي خو دبنده دحق څخه نه تيريږي .

موږ په دې قصه کي ولوستل چي ترټولو بهترين خدمت وخلقو ته هغه دی چي د خلقو امانت بيرته پلاس ورکړل سي . دا چي بعضي خلګ د نورو خلقو و دارايي ګانو ته يي سترګي پټي کړي وي اوياهم غلا وي کوي په ورځ دآخرت کي به په ډېرسخت عذاب سره اخته سي او رسول الله (ص) يي هم شفاعت ترهغو نه سي کولای ترڅود قرضدارحق ادا نه کړي . او په دنياکي به هم خجل اوشرمنده وي . دا خولا پريږده چي په پټه پټه به دخلقو دويري ګرځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دغنيمت مال څه ته وايي

دحضرت ابوهريره (رض) څخه روايت دی چي رسول اکرم (ص) فرمايلي دي : پيغمبرانوکي يو پيغمبر عليهم الصلواه والسلام و جهاد ته روان سو. اوخپل قوم ته يي وويل . داسي سړي دي زماسره نه ځي چي ښځه يي نکاح کړې وي ولي کورته يي نه وي راوستلې ، خود راوستو نيت يي وي . داسي سړي دي هم نه راسره راځي چي د آبادۍ ديوالونه يي پورته کړي وي خولايي چت نه وي پرې اچولی . اوداسي سړي دي هم نه راسره راځي چي ميږي يا بلاربي اوښې يي اخيستي وي اودهغو دبچو په انتظاروي.

غزاته روان سو ، اوهغه کلي ته په داسي وخت کي ورسيدی چي مازديګر يامازديګر نژدې وو . نو لمرته يي وويل . ته هم دالله په حکم روان يي اوماته هم د جهاد حکم الله راکړيدي . الله . دا لمر موږ ته ودروه ( ايساريي که ) . لمر ودريدی ترهغه وخته چي دوی فتح ومونده اودغنيمت مال يي راجمع کړ چي دآسمانه اور راسي او ويي سوځوي ( په هغه زمانه کي دادصدقې دقبليدو علامه وه ) اور راغلئ خودا مال يي ونه سوځاوه . هغه قوم ته وويل:

په تاسو کي چا خيانت کړيدی . مال پوره نه دی ځکه ونه سوځيدئ دهري قبيلې دي يو يو نماينده راسي ماته دي لاس راکړي . په هغوئ کي دوو يادرو کسانولاسونه د پيغمبر په لاسونو پوري ونښتل . ورته يي وويل . تاسي څه پټ کړيدي هغه راوړئ . هغوئ دغوا د سر غوندي د سرو زرو جوړ را وړ او په نورمال کي يي واچاوه . اور راغی او ټول مال يي وسوځاوه . حضور (ص) وفرمايل . الله تعالي زموږ په کمزورئ اوعاجزئ رحم وکړ اوموږ ته يي مال دغنيمت حلال کړ .

بخاري اومسلم شريف دواړو ددې مبارك حديث روايت کړيدی.

رياض الصالحين اول جلد 58 حديث 55 مخ باب الصدق

سوالونه

1.غنيمت څه ته وايي ؟

2.جهاد څه ته وايي ؟

جوابونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول :غنیمت عبارت دهغه مال څخه دئ چي دکفرسره دجګړې یاجهاد په وخت کي د مسلمانانو په لاس ورسي اویاپې ترې ولجه کړي . خوهیڅکله غلا ، لوټ ماري ، په زوراخیستل د غنیمت معني نلري بلکه دارنګه لاس ته راوړل هغه حرام مال دی چي په ورځ کي دآّخرت به پروردګارعالم دې شخص ته په دوږخ کي ځای جوړوي اودمال د عوض په رقم کي به دغله څخه دایمان حصه اخلي .

دوهم : جهاد عبارت دهغه مجادله اومبارزه څخه دی چي دحق غالبیت پرناحق باندي ثابتوي . جهاد په ځان ،ژبه اومال سره پخپل وس اوقدرت تحقق مومي . ددې مجادله او مبارزه هدف د الله تعالي د قانون تطبیق کول او نافذ کیدل دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توکل او با ور

دحضرت عبدالله ابن عباس (رض) څخه روایت دی چي حضرت محمد (ص) فرمایلي دي . ماته امتونه وښوول سول . یو نبي مي ولیدی چي ورسره وړوکي شان ټولګۍ وه اوځینو نبیانوسره یویادوه کسان وه اوځینو سره یوهم نه وو. ناڅاپه مي یوه ډیره ګڼه ولیده نومادا خیال وکړچي دا به زما امت وي . راته وویل سوه . دا موسي اود هغه امت دی . لیکن ته دآسمان کناري ته وګوره . ماچي وکتل نو یوه ډیره لویه جمع وه . بیا راته وویل سوه دې بلي کنارې ته وګوره . نودې خوا هم ډیره زیاته ګڼه وه . راته وویل سول دا ټوله ستا امت دی . په دې کي اویازره داسي کسان دي چي بي حسابه اوبې عذابه جنت ته ځي .

بیا حضرت (ص) دمجلس څخه ولاړسواوکورته ننوتی . خلقو خبري شروع کړي ، داکسان به څوك وي چي بې له پوښتني څخه به جنت ته ځي . چا ویل دابه دحضرت (ص) اصحاب وي . چا ویل دا به هغه کسان وي چي داسلام په دورکي پیدا سوي وي ، دکوچنیوالي څخه مسلمان وي اوشرك یي بیخي کړي نه وي . چا نوري خبري وکړي . په دې وخت کي آنحضرت (ص) دکوره څخه راووتی . وې فرمایل . څه خبري مو کولې ؟ خلقو ورته حال ووایه . نوآنحضرت (ص) وفرمایل : دابه هغه کسان وي چي پخپله دم درهه کوي نه په بل چا او نه به بد فالي نیسي بس پخپل رب به

توکل کوي . دستي عکاشه بن محصن (رض) ودریدی اوعرض یي وکی ؟

یارسول الله ته الله ته سوال وکه چي ماهم دې کسانو کي شامل کړي ؟ آنحضرت (ص) ورته وفرمایل . ته په دوئ کښي یي . بیابل سړی ودریدي عرض یي وکړ .

زماد پاره هم دالله (ج) څخه سوال وکړه چي دې کسانوکي مي شامل کړي ؟

رسول الله (ص) ورته وفرمایل : عکاشه ستانه مخ کي سوال وکړ .

بخاري شریف اومسلم شریف دواړو ددې حدیث روایت کړیدی.

ریاض الصلحین اول جلد4حدیث ( باب یقین اوتوکل )

سوالونه

.1آیادرسول مقبول امت زیات دی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2.آيا بې دالله ( ج) نه بل مددګارسته ؟

جوابونه

اول سوال جواب :

هو. دا حقيقت دی چې درسولالله (ص) امت ډيرزيات دی . ځکه په قرآن عظيم الشان کې دا وعده کړې سويده چې پس له محمده بل پيغمبر او بل نبي نسته اود قيامت تر ورځې پورې به دادين قايم وي په هرشکل اوهره بڼه چې ځوک اسلام ته خدمت کوي د همدې قرآن اومحمد (ص) پرارشاداتو باندې به بنا ولري . ددې خبرې د تائيد د پاره هغه صحنه وخپلو ګرانو ويونکو ته ورپه زړه کوم کم چې د رحلت په وخت کې پيښه سوې وه . هغه وخت چې رسول الله (ص) خپلې سترګې ددې نابودې دنيا څخه پټې کړې نو په مسجد نبوي کې حضرت عمرفاروق قسم وخوړ ، هرهغه کس چې ووايي پيغمبر مړسو سر به يې په توره ورته پرې کړم . په مسجدنبوي کې ټول صحابه چپ ناست او ولاړ دي هيڅ ځوک ږغ نسي کولای . حضرت ابوبکر صديق (رض) نسته ديوه غم پرځای دوه غمونه دي ، حضرت عمر په قهرکې دی توره يې راکښلې ده اود فرياده څخه چغې وهې . په دې حالت کې ځنې صحابه ولاړه حضرت ابوبکر چې د ښهره وتلې وو په دې حالت سره يې آګاه کړ . هغه هم په ډيره منډه ځان را ورساوه اومسجد نبوي ته حاضرسو سمدلاسه يې پرحضرت عمر دا آيت ولوستی

وَمَا مُحَمَّدٌ ﭐِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ﺩَفَﺈِيْن مَاتَ ﺩَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَى ﺩَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللَّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللَّهُ الشَّاكِرِينَ(144)آل عمران

ترجمه : نه دی محمد مګررسول دخدای (ج) . که چيرې مړسې اوياقتل سې نو تاسې به د پخوا پشان خپلو اولينو حالتونوته ګرځې . اوهغه کس چې وګرځيدئ خپل پخواني حالت ته پس هيڅ ضرر به ونه رسوي الله ته ډير ژردئ چې الله به جزا د نيکې ورکړي وشکر ګذارانو ته .

حضرت عمرفاروق (رض) وايي والله مادااّيت مبارك هير کړې وو سمدلاسه چپ سو او خپله توره يې بيرته په پوښ کې واچوله ددې مبارك آيت معنې اومطلب دادی چې د پيغمبر په نه موجود ديت سره به هم دادين داسلام قايم وي اګرکه منافقان اوکافران په خپلو دسايسو شپه او ورځ صبا کړي .

دوهم سوال جواب :

هيڅ کله د پروردګارعالم نه ماسوا بل ځوک مددګاره کيدای نسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وكفي با الله ولي وكفي با الله نصيرا .

ددنياد خلقو كمكونه هيڅكله موْ ثرنه واقع كيږي كله چي د پرور دگار عالم رضاْ پكښي نه وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوستۍ تړون

دمځكي پرمخ ډير ښهرونه كلي اوخلك دي چي په مختلفو شرائطواوحالا توكي ژوندكوي ، په همدې لحاظ په يوښهركي يو ډير مالداره سړى وو چي په يوه ولسوالي كي يو بل شته من زميندراه ملگري درلودئ د دوي ترمنځ دا عادت وو چي هركله به يي زړه وغوښتې د خپلي كورنۍ سره به يي ښهريا كلي ته سفركاوه اوڅه د پاسه شل ديرش ورځي به يي تيرولي په دي ترڅ كي يوه ورځ دكلي خان اوزميندراه د خپل كوركهول سره روان سواو ښهرته ورسيدى كله چي دخپل ملگري مهمان خاني ته داخل سو وې ليدل چي دملگري زوى يي ناست دى اوكتاب ورته غوړيدلئ دى ترسلام دوعا ورو سته هلك ولاړى چي خپل پلارخبركړي خوخپل كتاب يي په همدې مهمان خانه كي پرې ښودئ اوخپله ولاړئ ، زميندراه سړي وغو ښتل چي داكتاب ووينې كله چي كتاب يي خلاص كړ وې ليدل چي داسي پكښې ليكل سويوه.

خان كاكا په لمړي ځل كي دوه آسان اوخپل دكور ټول ماشومان را وستل دومره پيسې د آسانود پاره خوراك دومره وريجي دومره غوښې اوداسي نور. بيا په دوهمه پلا ...بيا په دريمه پلا... ، زميندراه سړي چي داكتاب ولوست ډيره يي خوا بده سوه اوځان ورته سپك معلوم سو،خيركله چي دده ملگرى راغى ترسلام دوعا ورو سته يي بيله ځنډه څخه ورته وويل : شاباش : څومره ښه دوستي ، زمادكلو كلو د را تللو حساب اوكتاب سره دخرڅه ليكي .او پرما باندي د خرڅ احسان اچوي ؟ ښهري سړى چي پوه اود فكرهوښيار وو په خندا سواو خپل ملگري ته يي وويل.

عجيبه ښه خبره دي وكړه ، ددې ليكلو مقصد دانه دى چي زه پرتا احسان اچوم اوياهم ستا نه ددې عوض غواړم مقصد دلته دادى چي هركله وغواړم ددوستۍ په باره كي فكر وكړم سمدلاسه كتاب ته گورم وينم چي مادا دوستي په دومره زياتو پيسو پيدا كړيده او څنگه به څوك وكړاى سي زما دا سرمايه بيځايه او بيهوده تلف كړي او يايي وغورځوي ځكه خو دا دوستي تر مرگه پوري پالم په دې باره كي يوفارسي شاعرهم څومره ښه فردونه لري موي سفيدام رافلك رايگان نداد*اين رشته رابه نقد جواني خريده ام

سوال

ددې مطلب اصلي مرام څه دى ؟

جواب : گرانو ويونكوكمه لاره چي ما وخپل ځانته پخپل ژوند كي ټاكلي ده هغه په سادگۍ اودمينا طوطي پشان د څو كلمو د زده كولو نتيجه نه ده بلكه دميني محبت ايمان اوكاملي عقيدې هغه پخه سوي ميوه اوغوره كړه سوي لاره ده چي د پروردگارعالم په رحم اوعطوفت سره زما په برخه سويده ځكه نو دمرگ تر ساعته به ددې لاري په حقانيت اوحقوقيت باندي اعتراف وكړم ددې خپلي خبري د برملا كولود پاره غواړم تاسي ويونكي پرما باندي شاهدان واوسۍ.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**